# سید جمال الدین افغاني
# او د ختیځ او لویدیځ مخامختیا



لیکوال

پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح

Ketabton.com

۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید جمال‌الدین افغان او د ختیځ او لویدیځ مخامختیا

لیکوال: **پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح**

خپروندی: **مجروح فلسفي اکاډمي**

د خپرېدو کال: **۱۳۹۹هـ/ ۲۰۲۱م**

د خپرېدو ډول: **دیجیتال**

ډیزاین: **هارون صافی**

ملاتړ او همکاري: **انسان څېړنیزه موسسه**

یادښت:

د پوهاند مجروح د کتابونو دا مجموعه د انسان څېړنیزې موسسې په همکارۍ چې د مجروح د فلسفي اکاډمۍ اصلي ملاتړی بنسټ دی، بیاځلي خپرېږي.

www.majrooh.org

info@majrooh.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادښت

په ۲۰۰۱م کال کې په افغانستان کې د نوي نظام د پیل راهیسې تر ننه پورې د هېواد د روشنفکرۍ د ډگر یوه مهمه ستونزه د نږدې ۴۰ کلنې انقطاع په پایله کې رامنځته شوې تشه ده چې په پایله کې یې زموږ د اوسني ځوان روشنفکر نسل معرفتي اړیکه د خپلو اسلافو سره شلولې ده. په بل عبارت د افغانستان نوي نسل ته چې په تېرو ۲۰ کلونو کې روزل شوی دی، تاریخ تر ۲۰۰۱ وروسته پیلېږي. دا نسل تر جگړې وړاندې افغانستان کې د تولید شوي معرفت سره ډېره لږه بلدتیا لري او له همدې امله په معرفتي ډگر کې د هېواد د د یوې معلومې او مشهودې جزیرې د بیاځلی پلټنې او کشف په هلو ځلو کې سرگردانه دی. دې ستونزې ته په کتلو سره زموږ یو رسالت دا هم دی چې د یو ارتباطي پله په توگه نن له پرون سره وصل کړو.

د افغانستان نومیالی فیلسوف، شاعر او لیکوال پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین مجروح د ۱۹۲۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۲مه د کونړ ولایت د اسمار په ولسوالۍ کې وزیږېدلو او د ۱۹۸۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۱مه نېټه په پېښور کې په مرموز ډول شهید شو.

پوهاند مجروح په فرانسه او جرمني کې د ادبیاتو او فلسفې په ډگر کې د دوکتورا تر کچې زده کړې وکړې او بیا په کابل پوهنتون کې د فلسفې استاد پاتې شو او تر څنگ یې یو شمېر اداري دندې هم ترسره کړې.

د پوهاند مجروح د زده‌کړو منځپانگه او د ژوند اصلي رسالت د غربي فلسفي مکتبونو او د شرقي – اسلامي فلسفې څخه د یو په زړه پوري سنتېز رامنځته کول وو. مجروح د افغانستان په معاصر تاریخ کې ممکن لومړنی فیلسوف وي چې د غرب فلسفه یې د شرق د عرفان سره په گډه مطالعه کړه او په پایله کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځايي معرفت بې ساری متن توليد کړ. په بل ساده عبارت هغه فلسفي مباحث چې نوموړي د فرانسې او جرمني په پوهنتونونو کې لوستلي وو، د افغان انسان لپاره د ځايي معرفت سره پخلا او د عيني واقعيتونو په نظر کې نيولو سره يې په ساده ژبه بيان کړل.

د پوهاند مجروح نږدې ټولو آثارو په مرکز کې د نفس، ژوند او آزادۍ د اصطلاحاتو د معنا او مفهوم پلټنه ده. د بېلګې په ډول « د جبر او اختيار په ډيالکتيک » کې د بېلابېلو فلسفي بحثونو په محور کې د ځانپېژندنې او انسانپېژندنې تر څنګ د فلسفي مکتوبونو اړوند مباحث شامل دي چې په ساده پښتو ليکل شوی دی. د پوهاند مجروح تر ټولو مهم اثر بيا «ځانځاني ښامار» دی چې په ٦ دفترونو کې ليکل شوی دی او په فلسفي او سمبوليکه ژبه يې د انسان، ټولنې او سياست په اړه بحث کړی دی. د نوموړي په وينا ځانځاني ښامار د هر هغه بنيادم کيسه ده چې په خپل ځان کې بتان جوړوي او بيا يې عبادت کوي. په حقيقت کې همدا ښامار دی چې هر انسان يې په خپل ځان کې روزي او بلاخره يې همدا په خپل لاس روزل شوی ښامار تر ستوني تېروي.

د محروج فلسفي اکاډيمۍ په پام کې لري چې د ۲۰مې پېړۍ ددې نوميالي فيلسوف (۱۹۲۸- ۱۹۸۸) د ۹۳مې کليزې او د ۳۳م تلين په مناسبت د نوموړي يو شمېر آثار په وړيا ډول خپاره کړي. په دې آثارو کې (د جبر او اختيار ډيالکتيک)، (د ځانځانی ښامار- اژدهای خودی ٦ دفترونه)، (ناآشنا سندرې) او (سيد جمال الدين و برخورد شرق و غرب) کتابونه شامل دي.

ددې آثارو د خپرولو اصلي موخه نوي ځوانانو ته د پوهاند مجروح د معرفۍ سربېره په روشنفکري ډګر کې د جګړې وړاندې افغانستان له روشنفکرانو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي روشنفکر نسل نښلول دي. سربېره پر دې د هېواد په اوسنیو حساسو شرایطو کې پر ټولو فرض ده چې ددې پړاو ځانځاني ښاماران وپېژني. اوسمهال زموږ ټولنه د پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین مجروح آثارو ته تر بل هر وخت ډېره اړتیا لري.

په درنښت

مجروح فلسفي اکاډیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

دغه اثر او لیکوال یې ............................................................. 8

سید جمال الدین افغاني او د ختیځ او لویدیځ مخامختیا ................13

د ختیځ د پوهانو له خوا د لویدیځ پیژندنې د لومړي کانګرس په اړه یو ورانديز.............................................................................. 40

لومړی د لویدیځ په اړه: ..........................................................41

دوهم د ختیځ په اړه:...........................................................44

وړانديز:..................................................................................50

نوټ: ...................................................................................53

یاددښت:..............................................................................54

تعلیقات ...............................................................................55

سید جمال الدین افغاني ........................................................55

ابن سینا: ..............................................................................57

ابن رشد:...............................................................................58

مولانا جلا ل الدین بلخي:.........................................................58

(c) ketabton.com: The Digital Library



گيزو: ......................................................................59

فارابي: ......................................................................59

رنان: ......................................................................60

محمود طرزي: ............................................................61

محي الدين انيس: ........................................................61

زردښت:.....................................................................62

اقبال لاهوري:.............................................................63

شيخ محمد عبده:..........................................................63

البرت حوراني: ............................................................64

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغه اثر او لیکوال یې

که په نولسمه پېړۍ کې سید جمال الدین افغاني د افغانستان تر ټولو مشهور مفکر او فیسلوف و، په شلمه پېړۍ کې دغه مقام د کونړ د یو بل سید، بهاوالدین مجروح په نصیب شو.

موږ اوس که څه هم په دوی دواړو باندې ویاړو او د افغانستان افتخارات یې بولو، خو چې کله ژوندي وو نو د وطن پرېښودلو ته اړایستل شول او یوازې هډونو یې اجازه ومونده چې د وطن خاورې ته رانقل شي.

سید بهاوالدین مجروح د افغانستان د نومیالي شاعر، ادیب او سیاستمدار ښاغلي سید شمس الدین "مجروح" زوی دی، چې د ۱۹۲۸ ع کال د فبروري په ۱۲ مه د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د شینکوړك د کلي په یوه روحاني کورنۍ کې دنیا ته راغی.

لومړني تعلیمات یې د شینکوړك د کلي په جومات کې سر ته ورسول او د فارسي مشهور کتابونه لکه گلستان، بوستان او سکندرنامه یې ولوستل.

څه موده وروسته له خپل پلار سره کابل ته لاړ او د د یارلس کلنۍ په عمر د استقلال د لیسې په څلورم ټولگي کې شامل شو. په ۱۹۵۰ ع کال کې د دغې لیسې د ادب او فلسفې له څانگې څخه په لومړۍ درجه فارغ او د هغه وخت د دولت له خوا د عالي تحصیلاتو له پاره فرانسې ته ولېږل شو.

له ۱۹۵۲څخه تر ۱۹۵۸ کال پورې یې د پاریس په سوربن او بیا یې د فرانسې په مونت پلیې پوهنتون کې خپل عالي تحصیلات د روحیاتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفې په څانگه کې د ماسټري په درجه سرته ورسول. په همدې موده کې يې په غربي جرمني او بريتانيا کې هم جرمني او انگليسي ادبيات ولوستل.

بهاوالدين مجروح په ۱۹۵۸ ع کال کې خپل هېواد ته راستون شو او په همدغه کال د کابل پوهنتون د ادب پوهنځي استاد او بيا يې رئيس شو. په ۱۹۶۳ – ۱۹۶۴ کې يې د کاپيسا ولايت د والي په حيث دنده اجرا کړه او د ۱۹۶۴ په وروستيو کې په غربي جرمني کې د کلتوري رييس دنده وروسپارل شوه.

مجروح د رسمي کار ترڅنگ د خپلې دوکتورا له پاره کار پيل کړ او په ۱۹۶۸ع کال کې يې له (مونت پليې) پوهنتون څخه د ادبياتو او فلسفې په څانگه کې دوکتورا واخيسته.

بهاوالدين مجروح له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ کلونو پورې د دوهم ځل لپاره د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې استاد و او په همدې دوره کې د پوهنځي انتخابي رئيس شو.

دی په ۱۹۷۲ کې د افغانستان د تاريخ ټولنې رئيس و او له ۱۹۷۳تر۱۹۷۹ کاله پورې يې د ادبياتو په پوهنځي کې د فلسفې د استاد په صفت وظيفه اجرا کوله.

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد له يرغله وروسته پوهاند مجروح د هجرت لار ونيوله او د ۱۹۸۰ ع کال د فبروري په ۱۲ مه پاکستان ته مهاجر شو.دلته يې ( د افغان اطلاعاتي مرکز) په نوم يو دفتر پرانيست چې د افغانانو د داعيې او مظلوميت اواز د نړۍ گوټ گوټ ته ورسوي.

دی که څه هم ژورناليست او خبرنگار نه و خو د افغانستان د خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت لپاره يې ژورنالیزم ته او د هیواد له حالاتو څخه د نړیوالو خبرولو ته متې راونغښتې.

پوهاند ډاکټر مجروح د جهاد په کلونو کې د افغانستان د نظامي، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي حالاتو په اړه شننې او تبصرې لیکلې او په نړیوالو غونډو کې یې د افغانستان د مسئلې په ارتباط خبرې کولې.

بهاوالدین مجروح د پوهنتون د استاد، لیکوال، فیلسوف او عالم په حیث ټول عمر د وطن د خلکو خدمت وکړ او کله چې په وطن بده ورځ راغله نو بیا یې هم بهتره وبلله چې له خپلو مهاجرو وطنوالو سره واوسي او د افغانستان خدمت ته ادامه ورکړي. دی تر هغې شیبې چې د ۱۹۸۸ کال د فبرورۍ په ۱۱، د جمعې په ماښام د اسلام او افغانستان دښمنانو، د خپل کار د دفتر په دروازه کې شهید کړ، د وطن په خدمت بوخت و.

انا لله و انا الیه راجعون

افغاني سید د خپلو افکارو لیکلو ته ډېر وخت ورنکړ خو بهاوالدین مجروح، له نیکه مرغه، موږ ته د خپل فکر ډېرې ملغلرې په لیکلې بڼه په میراث پرې ایښې دي. د سید جمال الدین افغاني د تاریخي نقش او مقام په باره کې د استاد مجروح دغه اثر د هغه د فکر د امېل یوه ځلانده ملغلره ده.

د سید جمال الدین افغاني په باره کې ډېر کتابونه لیکل شوي دي خو دغه اثر چې اوس يې لولئ، د افغاني سید د تاریخي نقش او مقام په باره کې له ډېرو جهتونو یو کمساری اثر دی او موږ ته داسې څه رازده کوي چې د نن د ستونزو په پېژندلو او حل کولو کې ورنه استفاده کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لیکنه چې دلته یې د یوه مستقل اثر په بڼه لولئ، په اصل کې د پوهاند ډاکتر مجروح هغه مقاله وه چې په دري ژبه یې د سید جمال الدین افغاني د سیمنار لپاره په ۱۳۵۵ لمریز هجري کال کې لیکلې او ډېره موده ناچاپ پاتې وه. استاد حبیب الله رفیع لیکي:« د سید جمال الدین افغاني په دې درانه سیمینار کې د هېواد لوی عالم او فیلسوف شهید پوهاند ډاکتر سید بهاء الدین مجروح هم، د سید د نړیوال فکر په ارتباط یوه له نوښته ډکه درنه مقاله درلوده، چې په کې د ختیځ او لویدیځ د فرهنګ او تمدن سره د مقابلې او ټکر په اړوند ژوره څېړنه شوې وه، چې افغانان او ټول مسلمانان یې ځان پېژندنې ته وربلل.

تر دې سیمینار وروسته، د هېواد بحراني شویو حالاتو د افغانستان د دې لوی عالم پیشنهادي نظریات او شرقیانو ته د ځان پېژندنې درسونه د هېرېدو غېږې ته وسپارل او د دوی دا علمي او پخه مقاله د چا لاسونه ته ونه رسېده او څو محدودې نسخې یې، چې د سیمینار لپاره ګستتنر شوې وې خورې ورې او تر دوړو لاندې پاتې شوې.

ما د استاد مجروح د دې مقالې یو نقل هغه وخت په خپل ارشیف کې ساتلی ؤ، خو چې پېښور ته ولاړم هر څه رانه پاتې شول او کله چې په ۱۳۷۵ کال بېرته یو ځل کابل ته ولاړم زما غني کتابتون تس نس شوی او له منځه تللی ؤ، خو له نېکه مرغه د دې مقالې متن زما د کتابتون په محدودو پاتې شونو کې پاتې ؤ، چې ډېر ورته خوشاله شوم. د مقالې متن مې یو ځل بیا ولوست نو نه یوازې دا چې د دې لوی عالم او ټولنپوه فیلسوف وړاندیز زوړ شوی نه و، بلکې تر هغه وخت نه زیات دا وخت د ځان پېژندنې او له لویو او وړو دښمنانو سره د ایډیالوژیکي مقابلې اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاته شوې او حتمې شوې وه، نو ځکه مې د دې لوی عالم دا وړه خو ژوره، ژوندۍ او ارزښتمنه مقاله په همغه کال د سید جمال الدین افغاني د سلم تلین او د شهید مجروح د نهم تلین په مناسبت د (افغانستان) او (تعاون) د مجلو له لارې په پېښور کې خپره کړه او په دې وسیله د مینه والو لاسونو ته ورسېده.

په ۱۳۸۵ کال کې د سید جمال الدین افغان یو سل او لسم تلین ؤ چې یو ځل بیا د ده په هېواد کې نیول کېده، نو لازم مې وبلل، چې دا مهمه مقاله په کابل کې هم خپره او د منیه والو لاسونو ته ورسېږي نو ځکه مې د دې سیمینار په اثارو کې د ځانګړې رسالې په توګه نشر کړه، چې ډېر ژر یې نسخې نایابې شوې.

په ۱۳۸۶ کال کې مو، چې د پوهاند مجروح د شهادت سلم تلین ؤ، دا ارزښتناکه رساله، چې خلك پسې ګرځېدل خو نه یې موندله، د مجروح فاونډېشن له لارې خپره کړه خو بیا یې هم ژر نسخې نایابې شوې.»

استاد رفیع دغه څرګندونې د ۱۳۸۸ کال په کب کې د دې رسالې د پښتو ژباړې د لومړي چاپ په سریزه کې کړې وې. په هغه وخت کې د دې رسالې پښتو ژباړه کلید موسسې خپره کړه او دا دی اوس د ژباړې متن له بیا کتنې وروسته په دویم ځل خپرېږي.

صدیق الله بدر، د ۱۳۹۵ کال ژمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید جمال الدین افغاني او د ختیځ او لوېدیځ مخامختیا

سید جمال الدین افغاني د معاصرې نړۍ یو اسرار امېزه، په زړه پورې او له معنی څخه ډکه څېره ده. اسرارامیزه له دې کبله چې د هغه د ژوند ځینې مرحلې تر شك و تردید لاندې راځي او د البرت حوراني په وینا: ((هغه خپل ځان ته افغان وایه او دښمنان یې هغه ایرانی بولي.))

د هغه د ژوند او هڅو ځینې مهم اړخونه لکه څنګه چې لازمه ده، په کافي اندازه روښانه شوي نه دي.

د ده د ژوند د جالبوالي اړخ دا دی چې هم د ابن سینا او ابن رشد په شان یو پخوانی فیلسوف راښکاري او هم په نوې معنا یو سیاسي مفکر. هم یې د مبارز او مجاهد ژورنالیست په بڼه وینو او هم یې د بلاغواړي( هنګامه طلب) او ماجرا جو کس په څېره کې موندلای شو.

خو هغه څه چې په ځانګړي ډول یې د سید څېره لا وځلوله او ځانګړې معنا یې وروبښله، هغه د نړۍ د تاریخ په خورا ستره پیښه کې یعنې د اسلامي ختیځ له تمدن سره د لوېدیځ د تمدن د تقابل او مخامختیا په بهیر کې د سید فعاله برخه وه.

په دې پېښه کې د سید جمال الدین افغاني دریځ د یوه تمدن پر وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل تمدن د تقابل دریځ و. هغه د یوه داسې ستر تاریخي بهیر استازیتوب وکړ چې لا تر ننه د تاریخ او ماضي برخه نه دی گرځېدلی او موږ نن هم په ډېر جدي او پېچلي ډول ورسره مخامخ یو.

د سید جمال الدین افغاني د شخصیت د معنی او مفهوم د درک په اړه لږ فکر هم خامخا موږ دې ته هڅوي چې د اوسنۍ نړۍ سترې فرهنگي او ټولنیزې ستونزې مطرح کړو.

که چېرې څوك وغواړي چې د سید د نړیوال شهرت علت او د هغه د تاریخي څېرې عظمت، د هغه په آثارو کې ومومي، نو ډېر به نهیلی شي او ژر به وپوهېږي چې د سید جمال الدین شخصیت د هغه په اثارو کې غایب دی. دا ټکی د سید څېره لا په زړه پورې کوي، ځکه د هغه ډېر مهم او یوازینی اثر، د هغه ژوند او د هغه دوامداره هڅې وې.

د سید افکار او نظریات د هغه په هڅو او مبارزو کې نغښتي دي. د ده افکار د ده له عملي ژونده بیل نه دي او د یوې نظري طرحې بڼه یې نه ده موندلې. موږ ویلای شو چې پخپله سید او د هغه شخصیت او مبارزه پخپل ذات کې یوه خوځنده ژوندۍ مفکوره وه.

په دې باره کې چې سید جمال الدین افغاني په خپل ژوند کې څه وویل او څه یې وکړل، زیاتې خبرې شوې او ډېر اثار لیکل شوي دي. په دې اړه که څه وایم هغه به تکرار او غیرضروري وي.

د سید شخصیت د یوه تاریخي متن نه تجزیه کېدونکی جز دی او زموږ په نظر د دغه شخصیت تاریخي معنی ډېر اهمیت او ارزښت لري، ځکه نو موږ دغه شخصیت ، په کلي ډول، د یوې مفکورې په حیث په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نیسو او هڅه کوو د هغه د شخصیت تاریخي اړخونه له دوو زاویو ولټوو:

۱- د سید د شخصیت معنا او موقعیت د تاریخ په پس منظر کې.

۲- د دغه شخصیت معنا او مفهوم د اوسنۍ نړۍ په تاریخي متن کې.

په دې لټون کې به زموږه طریقه د تېرو او معاصرو تاریخي پېښو بیان نه وي، بلکې موږ به په لومړي قدم کې ځینې نظري اساسات مطرح کړو چې د مسلماتو او بدیهیاتو په ډول که یې نه منو ، د کار فرضیې به یې وبولو او د هغو په مرسته به تر خپل بحث لاندې تاریخ د مهم جریان په باره کې ځینو پایلو ته ورسېږو.

زموږ د بحث ځو مخکېنۍ فرضیې به د سید جمال الدین افغاني د شخصیت او تاریخي اړخونو په اړه په لاندې ډول وي:

لومړی: تمدن او کلتور په زمان کې متحول واقعیت دی.

دویم: هغه لوی عامل چې یو کلتور او تمدن له بل کلتور او تمدن څخه بېلوي، د دوو کلتورونو او تمدنونو تر منځ د نړۍ لیدونو توپیر دی.

درېیم: نړۍ لید له پوښتنو او ځوابونو رغېدلې ذهني منظومه ده چې د فکر او عقیدې پر ځو پرنسیپونو ولاړه وي او ټولنه یې د ذهني او فکري اقتدار او اعتبار د سرچینې په حیث مني او د ژوند او جهان په اړه د ټولنې د غړیو فردي او اجتماعي سلوک او دغه راز د فهم ، ادراک او احساس طرز ټاکي او تعینوي.

څلورم: د یوه تمدن بدلونونه اساسا د هماغه تمدن د نړۍ لید بدلونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

پنځم: بدلون په دوه ډوله دی: تکاملي بدلون او انقلابي بدلون. تکاملي بدلون په ټوله کې تدریجي دی او انقلابي بدلون چټك او ناڅاپي. تدریجي تکاملي بدلونونه ممکن د انقلابي بدلونونو سبب شي.

تکاملي بدلون د یوه تمدن د نړۍ لید اساسات او اصول نه اغېزمن کوي، بلکې یوازې د نړۍ لید په روشونو، شکلونو او برخو کې بدلونونه رامنځته کوي، چې په نتیجه کې یې د هماغه نړۍ لید ځینې اړخونه لا پسې بشپړ او غني کېږي او حتی نور اړخونه یې، چې د زمان له شرایطو سره همغاړي توب نه لري، له منځه ځي او د هغه ځای نور شکلونه نیسي.

انقلابي بدلون د یوه تمدن د نړۍ لید اصول او اساسات له منځه وړي او بل نړۍ لید یې ځایناستی کوي.

شپږم: د لویدیځ تمدن د تمدن د تاریخ او په تیره بیا د معاصرې نړۍ د تمدن د تاریخ تر ټولو لویه پدیده ده. غربي تمدن او نړۍ لید یې د نړۍ په ټولو ټولنو کې د تکاملي او انقلابي بدلونونو یوازینی عامل دی. نن هر څه د همدغه نړیوال واقعیت په تناسب تعیین او تشخیصیږي.

ټولې مبارزې یا له دغه تمدن سره د مقاومت او مقابلې په لاره کې دي او یا د هغه د ځینو مفکورو د عملي کېدلو لپاره کیږي او یا د مدرنستانو او ریفورمستانو د متناقض چلند په بنه دي چې د لویدیځ تمدن له یوه اړخ سره مقابله کوي او بله جنبه یې مني. نن سبا به د ټولنیز او کلتوري بدلون هېڅ یو داسې واقعیت و نه مومو چې له دې چوکاټ او جوړښت نه بهر پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دغه پورته یادې څو مخکېنۍ قضیې په نظر کې نیسو او د هغې په رڼا کې هڅه کوو د خپل بحث اړوندې ستونزې مطرح کړو:

کېدای شي ووایو چې د اسلامي ختیځ او عیسوي لویدیځ مخامختیا ، هم د ختیځوالو له نظره او هم د لویدیځوالو له نظره، د تاریخ تر ټولو مهمه پدیده ده. دغه مخامختیا په دوو سترو مرحلو وېشلای شو:

لومړۍ مرحله: چې اسلامي ختیځ تمدن د لویدیځ په وړاندې په برتره او لاسبري حالت کې و.

دویمه مرحله: چې اسلامي ختیځ د لویدیځ تمدن په مقابل کې په وروسته پاتې او کمزوري حالت کې و.

د سید جمال الدین افغاني څېره د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا په دغه دوهمه مرحله کې ځانګړې معنی او ځلا لري.

په لومړۍ مرحله کې د اسلام دین د هغه وخت په ختیځو ټولنو کې انقلابي بدلونونه رامنځته کړل او یو داسې نوی تمدن یې وړاندې کړ چې د انسان او جهان په اړه یې نوی پیغام او نوې مفکوره لرله.

اسلامي نړۍ لید پر نویو اصولو او اساساتو ولاړه منظومه وه چې د ژوندانه ټول فردي او ټولنیز اړخونه، پوهنیز مسایل، د اخلاقو او سیاست مسایل، اقتصاد او حقوق یې احتوا کول. دغه نړۍ لید د ژوندانه لپاره نوې موخه او معنا وټاکل ، د قبیلوي ټولنې په خلاف یې د فرد په اهمیت تاکید وکړ او د دولت تشکیل او د امت اهمیت یې د قوم، توکم یا قبیلې د وحدت په اساس نه بلکې د اسلامي عقیدې په اساس تثبیت او تایید کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارتقا او پرمختګ په مرحله کې له نورو تمدنونو سره د اسلامي تمدن چلند له هغه چلنده ډېر فرق لري چې اسلامي تمدن د زوال په وخت کې له لویدیځې نړۍ سره وکړ.

په لومړۍ مرحله کې اسلامي تمدن په لوړ دریځ کې و، د خپل پیغام پر اهمیت او ارزښت پوره خبر او پر خپل فکري، سیاسي او نظامي ځواك ډاډه و.

په هغه وخت کې له تېرو تمدنونو یا د هغه وخت له موجودو تمدنونو سره د اسلامي تمدن چلند او مخامختیا داسې وه چې له نورو کلتورونو یې هغه څه را اخیستي ووچې د اسلامي تمدن له قدرت او انکشاف او د هغه د نړۍ لید له تکامل سره یې مرسته کوله.

هغه وخت په اسلامي تمدن کې داسې قوت و چې د بهرنیو کلتوري او فرهنګي عواملو د اغېزو په وړاندې یې له انتخاب څخه کار اخیستلای شوی.

مسلمانانو د دغه انتخاب له لارې د یونان له عقلي علومو او له هندي او آریایي علومو او هنرونو څخه ډېره ګټه واخیسته او په دې ډول یې لوی تمدن رامنځ ته کړ.

خو په دوهمه مرحله کې چې اسلامي نړۍ د لوېدیځ له تمدن سره مخامخ شوه، اسلامي نړۍ په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي لحاظ په وروسته پاتې او کمزوري دریځ کې وه او د پردي فرهنګ په وړاندې د تیر وخت هغه د انتخاب ازادي او د پردي فرهنګ په مقابل کې د مقاومت قدرت ورپاتې نه وو . په دې مرحله کې اسلامي نړۍ دفاعي بڼه خپله کړه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي هېوادونو غربي کېدا یوه حتمي پېښه راښکاره شوه.

د لوېدیځ د تمدن په وړاندې په دغه شاته تګ او دفاعي دریځ کې، له لویدیځ سره د مخامختیا مسئله، د مخکېنۍ مرحلې برعکس وه او داسې مطرح کېده چې: د غربي کېدلو په پروسه کې به اسلامي هېوادونه څه ډول وکولای شي چې خپل تېر دودونه او اسلامي تعلیمات وساتي؟

په لومړۍ مرحله کې، ټخپله اسلامي نړۍ لید یو انقلابي نړۍ لید و او ټول هغه بهرني تاثیرات یې چې منلي وو، تکاملي بدلونونه وو او د اسلامي نړۍ لید د لازیاتې بډاینې او ودې سبب شول.

په دویمه مرحله کې، اسلامي نړۍ لید د ثبات او استقرار حالت ته رسیدلی و او په نړۍ کې د داسې انقلابي بدلونو له اغیزو سره مقابل شو چې د نړۍ لیدونو پر آرونو او پرنسیپونو باندې یې شک څرګنداوه.

دلته لازمه ده هغه مهم ناسم پوهاوي ته اشاره وکړو چې ځینو مسلمانو لیکوالو راپیدا کړی او نن د مسلمانانو په منځ کې عام شوی دی.

ځینو اسلامي مفکرانو د ختیځ او لویدیځ د مخامختیا د دویمې دورې مسئله د مخامختیا د لومړۍ دورې په بڼه مطرح کړه او ګومان یې وکړ ( نن هم ډېر شمېر مسلمانان په همدې ګومان دي ) لکه څنګه چې اسلامي تمدن د خپلې ودې او پراختیا په پیل کې له یوناني عقلي علومو استفاده وکړه، نن هم پرته له دې چې د اسلامي نړۍ لید په اصولو او اساساتو کې تغییر راشي، کولای شي د لویدیځ له اوسنۍ ټکنالوژۍ او پوهنې کار واخلي.

څرنګه چې د سید افکار زموږ د بحث موضوع ده او سید د ختیځ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدیځ د مخامختیا د دوهمې دورې مهمه څېره ده نو مجبوره یو چې د دغې دورې ځینو عمده تاریخي او فکري ځانګړنو ته، په لنډ ډول تم شو. که څه هم په داسې یو لنډ او کوتلي بحث کې، خامخا ځینې هغه ټکي چې د ډېرې شرحې او تفصیل غوښتنه کوي،څه نا څه مبهم پاتې کیږي.

د اسلامي ختیځ او لوېدیځې نړۍ د مخامختیا دویمه دوره له عثماني دولت څخه پیل شوې ده چې د نوموړې دولت له انحطاط سره سره یې دوام کړی او نن هم په یوه بله بڼه په جریان کې ده.

عثماني سترواکي (امپراطوري) د اسلام د دین لپاره د یوه سپر په توګه وه چې د پردیو د یرغلونو په وړاندې یې هغه وساته . عثماني دولت د اسلامي تمدن د قدرت او عظمت مهم عامل و، خو په عین حال کې د اسلامي نړۍ دغه سپر یا ډال د بهرني نفوذ په وړاندې د یوه خنډ په توګه کار وکړ او اسلامي نړۍ یې د ډېرې مودې لپاره له سترو اروپایي بدلونونو او پرمختګونو لرې او بې خبره وساتله .

په اسلامي نړۍ کې، د اروپا د نویو پرمختګونو او بدلونونو په لاره کې د دغو خنډونو د رامنځته کېدو یو لوی عامل دا و چې د عثماني امپراطوري واکمنو او دولتي دستګاه د اروپا نویو افکارو او اجتماعي فلسفې ته د خپل بشپړ سیاسي اقتدار او استبدادي دولت د نظام لپاره د خطر په سترګه کتل.

په پایله کې، کله چې عثماني دولت مخ په ځوړ شو، د لوېدیځې نړۍ نظامي او تخنیکي قدرت د تالندې او بریښنا په څېر د اسلامي هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر سر راپریوت، چې د هغې ناڅاپې صدمې له هېښتیا څخه لا تراوسه هم اسلامي نړۍ په بشپړ ډول په هوښ نه ده راغلې.

په ۱۷مه میلادي پیړۍ کې د عثماني دولت انحطاط، بالکل څرګند و. سلطان د ټول واك مرکز و خو له یوې خوا د دولت ناقصې او مخ په ځوړې اداري دستګاه د چارو د اجرا موثریت کماوه او له بلې خوا د شپاړسمې پیړۍ له ختیمدو وروسته اکثره هغه سلاطین، چې د چارو واګې یې په لاس کې وې، بې کفایته او کمزوري کسان وو او عثماني اردو هم ورو ورو خپل نظم او اقتدار له لاسه ورکړ.

همدارنګه په دغه وخت کې ستراوکي له یوه ژور اقتصادي کړکېچ سره مخ وه. د کړکېچ اساسي علت، چې د امپراطورۍ اداري کمزورتیا، هغه لا زیات چټک کړ، د لویدیځ او ختیځ په لور د اروپا د نفوذ پراختیا وه. په هندوستان کې د اروپایي تجارتي مرکزونو استقرار، له بهرنۍ نړۍ سره د عثماني امپراطورۍ اړیکې ګډې وډې کړې.

د امریکا کشفېدل او د مدیتراني د غاړې اروپایي هېوادونو ته د سرو زرو سیلابي بهیر، د امپراطورۍ پر اقتصادي وضعیت ډېر ژور اغېز وکړ او د امپراطوري په داخل کې دوو نورو پېښو کورنی کړکېچ لاپسې زیات کړ:

یوه پېښه دا وه چې محلي قدرتونو د مرکزي دولت له کمزورۍ څخه ګټه پورته کړه او لا زیات خپل اختیاره شول.

دویمه پېښه د وهابیزم بهیر و چې د عثماني دولت شتون یې له شك او تردېد سره مخامخ کاوه. خو هغه ډېر مهم خطر چې د عثماني امپراطوري شتون یې وګواښاوه، د امپراطوري په داخل کې نه بلکې د هغې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرحدونو د باندې سر را اوچت کړ. دغه خطر د اروپا علمي او تخنیکي انقلاب او د لویدیځ ډېرېدونکی نظامي او اقتصادي قدرت و.

د منځنیو پیړیو په پای کې او تر هغه وروسته په اروپا کې بنسټیز ټولنیز او اقتصادي بدلونونه رامنځته شول خو په دې موده کې د اسلامي تمدن په حوزه کې دغسې څه نه وینو.

د لویدیځې اروپا په ځینو هېوادونو کې، په کلیسا پورې تړلی د منځنیو پیړیو فیوډالي نظام مخ په ځوړ شو او د صنعت او تجارت د کاروباریانو یوه نوې طبقه پیاوړې شوه. دغې بورژوازي طبقې، د سیاسي قدرت او اجتماعي تسلط د لرلو لپاره پر کلیسا او عیسوي دین تکیه ونه کړه، بلکې ساینس، فلسفې او تخنیک ته یې مخ واړاوه.

له دین څخه د فلسفې بېلېدل د یوه نوي نړۍ لید اساسات رامنځته کړل، چې د هغه په چوکاټ کې دولت وکولای شول له دین څخه جلا شي او نوې سیاسي فلسفې رامنځته شوې. علوم د کلیسا د اقتدار او واك له ساحې رابهر شول او د پوهنې د ودې او پراختیا په مخ نامحدودې لارې پرانستل شوې. لنډه دا چې په اروپا کې له رنسانس څخه وروسته نوي نړۍ لید ورو ورو د زاړه نړۍ لید ځای ونیو.

په دې اړه له موږ سره د ناسم پوهاوي یو بل ټکی دا دی چې د اسلامي نړۍ یو شمېر متفکرین، له رنسانس څخه وروسته اروپا، هماغه د منځنیو پیړیو عیسوي فیوډالي اروپا ګڼي او دا انګیري چې اوس هم اسلامي نړۍ یوازې له عیسوي دین سره مخامخ ده.

عثماني دولت یعنی هغه قدرت چې په شپاړسمه پیړۍ کې او حتی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده وروسته يې هم کولای شوی چې اروپا تر خپلې ولکې لاندې راولي ، د ويانا ښار وګواښي او له اروپايي قدرتونو سره مساويانه وجنګېږي، په نظامي ډګر کې له نويواختراعاتو او اکتشافاتو استفاده ونکړه او په پای کې، د اتلسمې پیړۍ له نیمايي وروسته، عثماني دولت نور نو له اروپايي قدرتونو سره د مقابلې توان نه درلود.

د اروپا تخنيکي او علمي اختراعاتو او کشفياتو په اسلامي نړۍ کې انعکاس ونه موند. مثلا د دغې دورې په عثماني ادبياتو کې کوپرنيك ته د کومې نغوتې څرك نه مومو. اردو او بحري ځواك له نويو تخنيکي اکتشافاتو هيڅ ګټه پورته نه کړه او په پايله کې د اتلسمې پیړۍ په نيمايي کې د اسلامي امپراطورۍ انحطاط بيخي څرګند و.

د انحطاط د دورې لومړنيو ليکوالو د هغه وخت سلطان ته بلنه ورکړه چې تېر عظمت او سترتوب بيا راژوندی کړي. دغه ليکوال دې ته هم ځير وو چې د تېرې زمانې د جوړښتونو په رغولو سره مسئله نه حلېږي او ستروا کي يو بل څيز ته يعنې د دفاعي او نظامي قوت زياتولو ته اړتيا لري. دغو کسانو له اروپا سره د مقابلې لاره يوازې د نويو نظامي تخنيکونو په زده کولو کې ولټوله. هر هغه څه چې په دغه دوره کې له اروپايي ژبو څخه په رياضياتو، جغرافيې، تاريخ او بحر پېژندنه کې وژباړل شول، يوازې د امپراطورۍ د نظامي حالت او د اردو د وضعې د ښه والي لپاره وو. د عسکري تعليماتو ښوونځي د اروپايي تخنيکونو د زده کړې په خاطر پرانستل شول.

تر دې نظامي تماس وروسته ژباړونکو او بيا ځينو سفيرانو يو ډول سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماس هم ټینګ کړ خود دیپلوماتانو دغه نسل هم تر ډېره د مسئلې حل په نظامي فورمونو کې وکوت او فکر یې وکړ چې سترواکي باید د نوي متمرکز دولت بڼه خپله کړي او د دې کار لپاره یې لاندې څو شرطونه اړین وګڼل:

۱- د یوې نوې اردو رامنځته کول،

۲- پر ټولو نیمه خپلواکو ولایتونو، د مرکزي اقتدار د بیا ټینګښت لپاره له دې اردو څخه استفاده،

۳- د قوانینو د یوه نوي سیستم تطبیق او د مساواتو پر اصل ولاړه اداره.

د نولسمې پیړۍ په پیل کې د عثماني امپراطوري اسلامي ټولنه د یوه نوي فکري بهیر شاهده وه چې د ټولنې د ( غربي کیدا) لپاره یې اصلاحات غوښتل. دغه بهیر اوږد مهال تاثیرات لرل او تاثیرات یې نن سبا لا په شدت سره احساسولای شو.

په دغه دوره کې، چې د تنظیماتو په نامه یاده شوه، د عسکري، طبي او اداري چارو نوي ښوونځي پرانیستل شول، د معارف هیاتونه اروپا ته ولېږل شول، یوه رسمي ورځپاڼه رامنځته شوه، اروپایي جامې معمولې شوې او داسې نور...

یوازې د نولسمې پیړۍ له نیمايي وروسته، د ۱۸۶۰ په شاوخوا کې، ځینو اسلامي لیکوالو او مفکرانو د خپلې نړۍ او خپلې ټولنې ځینې اساسي مسایل په تېره د سیاسي تیوري عمومي مسئله طرحه کړه او داسې پوښتنې یې بحث ته واچولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ټولنه کومه یوه ده؟

هغه معیار چې د ریفورمونو او اصلاحاتو لارښود وي ، کوم دی؟

آیا دغه معیار د اسلامي قوانینو له اساساتو څخه استخراجیدلی شي او یا دا چې

د نوې اروپا تعلیماتو او نظریاتو ته باید مراجعه وکړو؟

آیا په عمل او نظر کې د دغو دواړو ترمنځ تناقض نشته؟

د دغه بهیر لومړي نسل په یوه نسبتا ارامه فضا کې ژوند کاوه. له یوې خوا د اسلام او عیسویت ترمنځه مجادله ارامه شوې وه او له بل پلوه اروپا د استعماري عصر د یوه سیاسي او ټولنیز خطر په توګه لا نه وه راښکاره شوې. له دې کبله د دې دورې متفکرین تر ډېره حده د هغه عصر د اروپا د لیبرالي ډیموکراسي د اصولو، علومو او فنونو د مثبتو اړخونو لیوال شول او داسې ستونزې یې مطرح کړلې چې وروسته یې بیاد اسلامي نړۍ فکر بوخت وساته او د مسلمانانو د تفکر برخه وګرځېدې؛ مثلا د ذکر شوې دورې متفکرانو وویل چې د محمدي امت په منځ کې ملي ټولنې موجودې دي، د دولت موخه په دې نړۍ او هغې نړۍ کې د خلکو هوساینه ده او د خلکو هوساینه چې د دولت اصلي موخه ده، د تمدن په رامنځته کولو کې نغښتې ده. دوی د هغه عصر اروپا په تېره فرانسه، د تمدن د معیار په توګه ومنله او بالاخره د اروپا د قدرت او عظمت راز یې د عقلي علومو په پرمختګ کې ولیده.

دغه مسایل مطرح شول خو یوازې کم شمیر کسان په دې پوهېدل چې په مطرح شویو ټکو کې ستونزې او تناقضات شته او لا زیات غور

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي. د بېلګې په توګه د الهي وحې اصل د انساني عقل له هغې ادعا سره، چې ځان يوازنی صحيح اساس ګڼي، څه ډول پخلا کېدلای شي؟ آيا شريعت چې پر الهي علم ولاړ دی، له نويو حقوقو سره، چې د غير الهي علم په اساساتو متکي دی، څنګه پخلا کېدای شي؟ دغه راز ديني وحدت ته وفاداري به د ملي اتحاد له اصل سره څنګه يو ځای کېږي؟

د مخ په ځوړ اسلامي ختيځ او مخ په بره لوېديځ د مخامختيا دوهمه مرحله هم په دوو برخو ويشلای شو: يوه برخه يې کېدای شي د تېرايستونکې لېوالتيا برخه وبولو او بله برخه يې د مقاومت او مبارزې مرحله ونوموو.

رښتيا هم د دوهمې مرحلې د پيل په دوره کې د اسلامي نړۍ ليکوال او متفکرين د لوېديځ د عدالت او مساواتو د آيډيال ليوال شول او اروپا د عقلي علومو او تمدن زانګو ورښکاره شوه او دا يې وانګېرل چې لوېديځه دنيا يوازينۍ ښه ښوونکې ده او که چېرې اسلامي ټولنې د هغې شاګردي وکړي ، د اروپا علوم او فنون زده کړي، د اروپا د ټولنيزې او سياسي فلسفې اصولو ته پخپلو ټولنو کې د عمل جامه ور واغوندي، نو هم به اسلامي نړۍ له زوال او انحطاط څخه وژغورل شي او هم به لوېديځ ليبرال او منور قدرتونه د اسلامي هېوادونو ملاتړ ته راودانګي او دغه قدرتونه به مسلمانان د منفي قدرتونو له شره وژغوري.

خو د ۱۸۷۵- ۱۸۸۲ کلونو په ترځ کې لوېديځ خپله نوې څېره ښکاره کړه. اسلامي نړۍ په دې دوره کې په دې وپوهېده چې اروپايي ملکونه هر وخت چې يې زړه وغواړي او اراده يې وکړي د ختيځو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل ته ورځي او تر خپلې سلطې لاندې يې راولي.په ۱۸۸۱ کې د فرانسې له خوا د تونس او په ۱۸۸۲ کې د انګلستان له خوا د مصر نیول، د اسلامي نړۍ لپاره یو ستر تاریخي درس و. د دغو پېښو له کبله په اسلامي نړۍ کې فکري بهیر هم بله بڼه غوره کړه او ډیر پام دې ټکي ته واوښت چې د اروپا سلطه او غلبه د اسلامي نړۍ لپاره تر ټولو لویه خطره ده.

د اسلامي تمدن د انحطاط د احساس پخوانۍ مسئله پخپل حال باقي پاتې وه او هغه نوې ستونزې چې پرې ور زیاتې شوې دا وې چې په څه ډول د لوېدیځې نړۍ د بې ساري ځواك او قدرت په وړاندې مقاومت وشي؟ د بقا راز په څه کې دی؟

د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا مسئله د تېرایستونکې لېوالتیا او فکري او نظري رابطې له مرحلې څخه تېره او د ژوند او مرګ په ډېره مهمه ستونزه بدله شوه او ثابته شوه چې د مرګ د دغه خطر اساسي عامل د اسلامي تمدن په داخل کې نه بلکې په بهر کې دی.

په ټولیز ډول د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا په مرحلو کې د مسلمانانو فکري دریځ د مولانا جلال الدین بلخي هغه مشهور داستان را یادوي چې وایي: څو تنه په تیاره کې له یوه فیل سره مخامخ شول او د هغه د بدن پر مختلفو ځایونو یې لاس تېر کړ او د خپلې محدودې مشاهدې په اساس یې فیل په بېلابېلو بڼو تعریف کړ.

لوېدیځه نړۍ هغه دیو پیکره ماموت و چې مسلمانان د تاریخ په تیارو کې ورسره مخ شول او هر چا چې څه درک کړل، هماغه یې ټول واقعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګاڼه. یوه وویل: لوېدیځ جهان یعنې عیسوي دین، چې د اروپایي هېوادونو نظامي ځواک یې قوت زیات کړی دی؛ بل وویل: لوېدیځ یعنې د ساینسي او تجربي علومو روزنځای؛ دریم وویل: لوېدیځ یعنې د فرهنګ او ادبیاتو لکه ورځپاڼې، ناول، ډرامې او تاریخ لیکنې د نویو بڼو د انکشاف سرچینه؛ څلورم وویل: لوېدیځ یعنې د ولسواکي، ښې سیاسي ټولنې، عدالت، مساوات ، بشري حقونو او د خلکو په وړاندې د مسوولو دولتونو ټاټوبی. بل وویل: لوېدیځ یعنې اخلاقي فساد، د عیش و عشرت زانګو، د مادیت پرستي نړۍ او له بشري احساسه پردی چاپېریال؛ او بالاخره یوه بل وویل: لوېدیځ یعنې خودپرسته او ځان غوښتونکی ځواك، د استعمار او استثمار د واکمنۍ او باداریۍ قدرت.

سید جمال الدین افغاني د تاریخ په همدې پړاو کې چې لویدیځې دنیا د استعمار منګولې په پردو وطنونو کې ښخې کړې وې او د سترو اروپایي هیوادونو صنعتي انقلاب او اقتصادي پرمختګونه پر ختیځو هیوادونو باندې د سیاسي او نظامي سلطې د ټینګولو لپاره پکار لوېدلي وو، ظهور وکړ.

سید له یوه پلوه د اسلامي ټولنو له مخ پر ځوړ حالته پوره خبر و او له بل پلوه یې پر اسلامي سیمو د تسلط لپاره د اروپایي قدرتونو د خطر فشار احساساوه. هغه پوه شو چې اسلامي نړۍ د مرګ او ژوند له ډېرې عاجلې مسالې سره مخ ده. ده فوري لاره دا لیده چې د عملي سیاست میدان ته ودانګي.

له یوې خوا د سید کرکتري خصوصیاتو، چې په اصل کې یو بیرون ګرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ابجکټیف بنیادم و، هغه په واقعي نړۍ کې عملي فعالیت ته هڅاوه، او له بل لوري د وخت عاجلې اړتیا چې د لویدیځ د استعماري قوتونو په مقابل کې يې د عملي اقداماتو غوښتنه کوله، سید جمال الدین افغاني ته د اوږدو فکرونو او منظم فکري پلان د تدوین فرصت نه ورکاوه.

سید جمال الدین افغاني چې په (نیچریه) نومې مشهوره رساله کې، د هغه وخت د عقلي ـ تجربي علومو د مسایلو په اړه استدلال کوي، هلته د کلامي استدلال سبک او ذهني جوړښت وینو. دغه سبک د تېرو پېړیو له اسلامي علماوو سره متعلق و.

سید د داسې نظري جدلي ذهنیت له لرلو سره سره ، کله چې د اروپا د نولسمې پېړۍ له دنیا سره اشنا کېږي، د خپل نبوغ په مټ د دې دنیا مسایل په عصري او مدرنه بڼه درک کوي. مثلاً هغه، له ۱۸۷۱ کاله وروسته، خپلو مصري شاګردانو ته په نا رسمي تعلیماتو کې ټینګار کوي چې د اروپایي قدرتونو مداخله د اسلامي نړۍ لپاره تر ټولو ستر ګواښ دی. دی د دې ګواښ په وړاندې د مقابلې لپاره درې ټکي یادوي: یو دا چې ملي وحدت ته اړتیا ده، بل دا چې په یو سترچوکاټ کې د اسلامي ملتونو د وحدت ضرورت دی او بالاخره اساسي قوانینو ته اړتیا ده چې د وخت د خپل اختیارو واکمنو قدرت محدود کړي.

دویمه مفکوره یعنې د اسلامي نړۍ اتحاد یا پان اسلامیزم د سید جمال الدین افغاني په مبارزو او مجادلو کې ډېره مهمه وه خو کله چې د سید د مبارزو نورو اړخونو په تیره بیا په هندوستان کې د هغه فعالیتونو ته نظر وکړو، ګورو چې هلته يې د هندو او مسلمان ترمنځ د ملي وحدت تبلیغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه او ملیت یې د ادیانو او مذاهبو تر اختلافونو پورته ګاڼه. له دې ډول چال چلند څخه معلومېږي چې پان اسلامیزم د سید جمال الدین افغاني یوازینی ستراتیژیک هدف نه و، بلکې هغه یې یوه اغیزمنه وسیله ګڼله او غوښتل یې د پان اسلامیزم په مرسته اسلامي هېوادونه را ویښ او د لوېدیځ د قدرت په وړاندې د هغوی د مقاومت سېکه زیاته کړي.

که څه هم سید د اسلامي دنیا د اتحاد خبره په ماضي کې د دې دنیا نسبي یووالي ته په پام سره کوله خو سید د خپل پروګرام له نورو ټکو سره د پان اسلامیزم د مفکورې د نه پخلاینې او نه جوړښت ستونزې په نظر کې ونه نیولې. د سید د پروګرام دوې نورې مفکورې یعنې د ملي هویتونو تثبیت او سیاسي تشکېلات د نوي عصر مفکورې وې چې سید یو عمر د هغو لپاره مبارزه وکړه. پر دې سربېره سید جمال الدین افغاني د نولسمې پېړۍ د اروپا په تېره د فرانسې د افکارو تر اغېز لاندې، د ګیزو له اثارو سره اشنا شو او د تمدن مفهوم یې د هغه عصر له نویو محتویاتو سره خپل کړ او د لومړي ځل لپاره یې اسلام یوازې د دین په توګه په نظر کې ونه نیوه، بلکې د اسلامي تمدن په توګه یې مطرح کړ. د تمدن د مفهوم نوې محتوا یعنې د ترقي مفهوم د افغاني سید توجه جلب کړه. ګیزو «ترقي» په دوو اړخونو کې لیده:

۱- د ټولو خلکو د ډیرېدونکې سوکالي او هوساینې په لور ټولنیزه پراختیا،

۲- د فکري، ذهني او اخلاقي استعدادونو له نظره فردي انکشاف.

د ګیزو په نظر دواړه ډوله پراختیاوې د انسان د وس خبره ده او ویل یې چې انسان پخپله کولای شي د خپل فکر، احساس او ذهني او اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواك په مرسته پر نړۍ واك وچلوي او په فردي او اجتماعي چارو کې يې دغه د واك چلولو عامل انساني عقل او اراده ګڼل.

سید جمال الدین افغاني چې د فرانسې د نولسمې پیړۍ دا مفکوره د اسلامي تمدن ساحې ته راکاږي، وایي چې اسلامي تمدن د همدغو خصوصیاتو لرونکی و، ځکه د دغه تمدن د اوج او اعتلا په وخت کې د پراختیا ټول اړین عوامل موجود وو، یعنې پر تعقل باورمنه ټولنیزه او فردي پراختیا، خو په ورپسې پیړیو کې اسلامي ټولنې دغه خصوصیات له لاسه ورکړل. سید په دې باور و چې د اروپا د نویو عقلي علومو په زده کړې او د اسلامي وحدت په دوباره ټینګښت سره به اسلامي تمدن وکولای شي چې خپل پخوانی عظمت او سترتوب بیا ترلاسه کړي. خو سید جمال الدین افغاني بیا هم، د نورو تېرو متفکرینو په څېر، د اسلامي نړۍ د انحطاط علتونه په سیاسي او نظامي عواملو کې لټول او له دې کبله یې سیاسي مسایلو ته ډېره توجه وکړه.

د ده فکر چې د سیاست نړۍ ته واوښت، نو د هغه وخت سلاطین او د اسلامي هېوادونو مستبد زمامداران یې د خپلو عقایدو د پلي کولو په لاره کې سترخنډ ولیدل او د هغوی په وړاندې یې په مبارزې لاس پورې کړ. د بدو واکمنو په وړاندې مجادله او د ښه واکمن لټون د سید جمال الدین افغاني سرګردان او له پیښو ډک ژوند ته شکل ورکړ. ده د افلاطون په څېر ښه واکمن لټاوه چې د هغه نظریاتو ته د عمل جامه ور واغوندي، خو په دې غټ توپیر چې افلاطون د خپل جمهوریت منظمه سیاسي- نظامي طرحه له ځانه سره لرله او له سید سره د خپلو مبارزو کومه منظمه او منسجمه فکري طرحه موجوده نه وه. سید د فارابي په شان په دې فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې و چې واکمن او فیلسوف سره یو کړي. دی د خپل ژوند په اوږدو کې د دې فاضله مدینې په لټه کې له ماتو سره مخ شو. د سید او واکمن ترمنځ ناسم پوهاوی له دې ځایه راولاړېده چې واکمن غوښتل د خپل سیاسي اقتدار د پیاوړي کېدو لپاره د هغه له روحاني نفوذ څخه کار واخلي، حال دا چې سید غوښتل د لویدیځ د تسلط په وړاندې د مبارزې لپاره د اسلامي ملتونو د وحدت په مقصد له واکمنه استفاده وکړي.

سید که څه هم د سیاست نړۍ ته متوجه و خو د خپلو ورځنیو مبارزو او عاجلو علمي هڅو په اوږدو کې یې دا وخت ونه مونده چې دغو دوو اساسي ټکو ته پام واړوي:

۱- د اروپا د هغه عصر سیاسي فلسفو ته توجه او د سیاسي قدرت د اساساتو د مسئلې طرحه او د ختیځ د نړۍ لید په ژورو کې د واکمنانو د استبداد او مطلق العنانیت د ریښو لټه.

۲- دې ټکي ته توجه چې د اسلامي هېوادونو واکمنانو او د هغه وخت استعماري قدرتونو پر ختیځو ټولنو د خپل واك د ټینګښت لپاره مشترکه وجه درلوده او د عامو خلکو جهل او ناداني او د هغوی مادي او معنوي فقر هغه عنصر و چې استعمار او ځايي واکمنو دواړو ورڅخه استفاده کوله.

که څه هم سید جمال الدین افغاني د سیاسي فلسفې اساسات له نوي سره طرحه نه کړل او پخپلو هڅو کې یې له ولسي غورځنګونو څخه او د لوېدیځې نړۍ په تاریخي پېښو او خصوصا سیاسي او اجتماعي انقلابونو کې د دغو غورځنګونو له نقش څخه د اسلامي دنیا لپاره الهام وانخیست،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دې باوجود، د ختیځ له مستبدو واکمنو سره د هغه اوږدو مبارزو، په غیرمستقیم ډول، په اسلامي هیوادونو کې د مشروطه غوښتنې او وطنپالنې نهضتونو ته سا ورکړه او په تېره بیا په عربي هیوادونو کې د ریفورمیزم او مدرنیزم د بهیر بنیادونه کیښودل شول.

په ټولیز ډول ویل کېدای شي چې هم د لوېدیځې نړۍ په بې ساریو تحولاتو کې او هم له اسلامي ختیځ سره د لویدیځ تمدن په مخامختیا کې ترټولو مهم ټکی د دین او فلسفې ټکر او تقابل و.

د دین او فلسفې ټکر او تقابل، د ختیځ او لویدیځ د مخامخیدنې په ساحه کې، د سید جمال الدین افغاني د عصر تر ټولو مهمه مساله وه چې نن هم هغومره مهمه ده. سید دغه عمده مساله په هغه لیکنه کې چې د فرانسوي فیلسوف (رنان) د نظر په مخالفت کې یې په پاریس کې خپره کړه، په څرگنده او روښانه توگه طرحه کوي.

د دغې مقالې د فرانسوي متن په یوه برخه کې، سید داسې وایي: «دینونه، چې په هره نامه یادیږي، ټول له یو بل سره ورته والی لري. د دغو ادیانو او فلسفې ترمنځ د تفاهم او پخلاینې هیڅ ډول امکانات نشته. دین انسان اړباسي چې ایمان او عقیده ومني، حال دا چې فلسفه له دیني عقیدې او ایمان څخه د انسان د پوره یا څه نا څه بیلېدا سبب گرځي. هر وخت چې دین غلبه وکړي، فلسفه له منځه وړي او د دې برعکس حالت هغه وخت رامنځ ته کیږي چې فلسفه پوره برلاسې وي. ترهغه وخته پورې چې انسان موجود وي، د دین او فلسفې تر منځ او د عقیدې او ازاد تفکر ترمنځ مجادله به پای ته ونه رسیږي؛ خو دا وېره راسره شته چې په دې سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجادله کې به بریالیتوب د ازاد تفکر په برخه نه وي، ځکه عوام تعقل نه خوښوي او په تعلیماتو یې یوازې یو کم شمېر خواص پوهېدای شي. دغه راز ، علم که هر څو ښکلی شي، بیا هم د انسان د پوره ارضا سبب نه ګرځي ، ځکه چې انسان د آیډیال تږی دی او غواړي په داسې مرموزو او لرې ساحو کې پل کېږدي چې فیلسوفان او عالمان هلته د لټون وس نلري او له درکه یې عاجزه دي.»

پورته متن ځینې مثبت او منفي ټکي لري، چې له دواړو اړخونو مهم، په زړه پورې او باارزښتنه دی. د دغه متن لومړی ټکی، چې د متن د پیل ټکی هم دی، دا دی، چې په هغه عصر کې د ختیځ او لوېدیځ د مخامختیا ترټولو مهمه مسئله او د نننۍ عصر عمده مسئله په اخلاقي جرئت او وضاحت سره مطرح کوي، ځکه نن هم موږ له همدې مسئلې سره مخامخ یو او د خپلو عمده مسایلو په طرحه کولو کې همداسې وضاحت، څرګندتیا او اخلاقي جرئت ته اړ یو.

دویم مهم ټکی په انسان کې دین او عقیدې ته د تمایل د موجودیت په باب د متن وروستۍ اشاره ده. سید جمال الدین افغاني په خپل دې قضاوت سره د نولسمې پېړۍ د رشنلیزم (عقل ګرایي) او سیانتیزم (علم ګرایي) له بهیرونو سره مخالفت کوي او یوه داسې مساله مطرح کوي چې په شلمه پیړۍ کې یې نوې معنا او نوی مفهوم پیدا کړی دی. شلمې پیړۍ د نولسمې پیړۍ سیانتیزم او رشنلیزم غندلي، سطحي یې ګڼلي او په علمي لحاظ یې بې ارزښته بللي دي. د نن ورځې انساني علوم دین او عقیدې ته د انسان فطري تمایل د یوې ښکارندې او پدیدې په حیث تاییدوي. ارواپوهنه د انسان په لاشعور او عاطفي ریښو کې او بشر پوهنه د انسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتوري، اجتماعي او انساني ژوند کې د دغه تمایل په باب په څېړنو بوخته ده.

البته د سید د لیکنې اقتباس شوی متن دوه د بحث وړ ټکي هم لري:

لومړی دا چې سید په ډېر ډاډ سره د ازاد تفکر د شاته تګ خبره کوي. په دې اړه د ده حکم په یوه داسې قضاوت ولاړ دی چې د پخوانیو پېړیو له ذهني جوړښت سره تړاو لري. ځکه زموږ د تېرو پېړیو مفکرانو ټولنه پر دوو طبقو وېشله: د خواصو طبقه او د عوامو طبقه. دوی ته چې د ټولنې حالت ثابت ښکارېده، د دغو دوو طبقو په وضعیت کې تغییر یې زړه ته نه لوېده. که موږ د خواصو او عوامو د دوو ثابتو طبقو دغه فرضیه ومنو، نو بې له شکه د عقیدې په وړاندې د ازاد تفکر د ماتې په اړه د سید قضاوت سم دی او که د دې مقالې د لومړۍ فرضیې د اساساتو له مخې د فرد او ټولنې په اړه د بدلون او انکشاف مفهوم ومنو او په اوسني عصر کې د تعلیم او تربیې عمومیت په نظر کې ونیسو، نو د خواصو او عوامو ثابت مفاهیم خپل قاطع ارزښت له لاسه ورکوي او د عقیدې او ازاد تفکر د مجادلې مسئله په بل ډول طرحه کېږي.

دویم دا چې د انسان د میتا فزیکي تمایلاتو د فهم او شرحې په اړه د پوهانو او فلاسفه وو نیمګړتیا او نارسایي هم د غور وړ ده. ځکه که علم او فلسفه په افلاطوني او ارسطویي معنی او له هغوی نه په پیروۍ د لرغونو اسلامي حکماوو په معنی په نظر کې ونیسو، په دې صورت کې د سید د حکم په اړه کوم شك او تردید په ځای نه پاتې کېږي، خو که چېرته د فلسفې او نویو علومو انقلاب او د هغه انکشاف په نظر کې ونیسو او عملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وګورو او مشاهده کړو چې علوم کومې څېړنې ترسره او څه پایلې ترلاسه کوي، نو راڅرګندیږي، چې لاهم د لایتناهي په لور د علم او فلسفې لار پرانستې ده.

په لنډه توګه ویلای شو چې حضرت سید جمال الدین افغاني که څه هم د پخوانیو په سبک ذهني جوړښت درلود خو د خپل نبوغ په برکت یې، د ختیځ او لویدیځ د مخامختیا په ساحه کې، د خپل پېر ډېرې مدرنې او مهمې ستونزې بیان کړې او د هغو د حل لپاره یې یو عمر هڅه او مبارزه وکړه او د ننني مبارزو اساسات یې طرح کړل. دی په دې پوه شو چې لویدیځ تمدن د نړۍ د تاریخ تر ټولو ستره پدیده ده او دا ممکنه نه ده چې له دې ښکارندې ( پدیدې ) سره مخامخ نه شو، نو په دې مخامختیا کې کومه لاره غوره کړو چې موږ ختیځوال د هغې په مرسته هم د خپل ژوند فردي او ټولنیز شرایط ښه کړو او هم د خپل انساني هویت او د خپل ژوند او ټولنې معنا له لاسه ورنه کړو؟ هغه لاره چې د سید جمال الدین افغاني د مبارزو یوه اساسي موخه وه او نن هم ترټولو سمه لاره ښکاري، هماغه د ملي هویت د تثبیت لاره ده او د دې لپاره چې هم ملي هویت تثبیت شي او هم د لوېدیځ تمدن د انکشاف په لاره روان شو ، د سید په فکر یو ډېر ابتدایي او اساسي شرط دا دی چې ملي ژبو ته علوم او فنون را ولېږدوو. دا مهمه عصري دنده اوس هم زموږ مخې ته پرته ده. ځینو اسلامي هېوادونو تریوه بریده په دې لاره کې ستر ګامونه اوچت کړي خو پخپل هېواد کې مو لکه څنګه چې لازمه ده، لا هم په منظم ډول په دې مهم ملي کار باندې پیل نه دی کړی.

تر سید جمال الدین افغاني وروسته، د هغه د ستر شخصیت فکري بهیر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عبده او پیروانو یې پر مخ یووړ، خو عبده له سید جمال الدین افغاني سره پر یو مهم ټکي د نظر اختلاف درلود، چې زموږ د بحث لپاره ارزښتمن دی او مخکې مو دې ټکي ته یو څه نغوتې هم وکړې. عبده په دې باور و چې د لوېدیځ له تمدن سره د سمې او بریالۍ مخامخېدنې لپاره یوازې سیاسي مبارزې او عملي هڅې کافي نه دي، بلکې تر ټولو مهمه د دې برخورد نظري طرحه او د فکري اساساتو تثبیت دی. هغه خپل اصلاحي او رفورمي پروګرام په څلورو لاندې ټکو ودراوه:

۱- له فاسدو عادتونواو منفي تاثیراتو څخه د اسلام د دین تصفیه کول،

۲- د اروپا د نفوذ او د عیسویانو د بریدونو په وړاندې د اسلام دفاع،

۳- د لوړو زده کړو ریفورم،

۴- د نویو افکارو په رڼا کې د اسلام د دوکتورین بیا طرحه کول.

دغه پروګرام د مصر د رفورمیزم او سمون پالنې په بهیر کې په تېره د تعلیماتو په ساحه کې مهمې اغېزې ولرلې خو د نننی عصر او ننیو افکارو په رڼا کې د اسلام د اجتماعي او سیاسي دکتورین د دوباره اساسي طرحه کولو پروګرام، هغه کار دی چې د مشهور شخصیت علامه اقبال لاهوري د ادعا او هڅو باوجود لا هم عملي شوی نه دی.

علامه اقبال یو هغه شخصیت و چې د داسې دوکتورین ادعا یې درلوده او تمه هم ترې کېده چې د معاصرې نړۍ د افکارو په رڼا کې به د اسلامي دوکتورین اصول په اول ځل مطرح کړای شي. ځکه هغه له لوېدیځې نړۍ سره تر سید ډیر بلد و او هلته یې د فلسفې لوړې زده کړې کړې وې . له بلې خوا اقبال له اسلامي تمدن سره هم له نژدې اشنا و. خو نوموړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو مساعدو شرايطو با وجود، د فکري تناقضاتو په دام کې ښکېل شو ، مثلاً د بشردوستي نازك افكار يې د جرمني فيلسوف فريدريک نيچې د « برترين انسان د قدرت هوډ» له بې رحمانه نظريې سره واخښل او صوفيانو ته يې بد وويل خو هغه لاره يې چې گومان يې کاوه د اسلامي تفکر د تجديد او نوي کولو لپاره يې موندلې ده، هماغه د عارفانو لاره وه، چې د اسلام سترو صوفيانو، تر ده پخوا، تر ده بهتره بيان کړې وه.

د يوه دانشمند په قول: « اقبال د صوفيانو اخلاق خوښ نه کړل خو د صوفيانو نړۍ ليد يې د اسلامي نړۍ د ننيو ستونزو د حل لپاره يوه حل لاره وگڼله.» او له بل لوري علامه اقبال د هغه اسلام خبرې کوي چې د هغه د شاعرانه تخيل او تفکر پيداوار دی او د اسلام له تاريخي او واقعي دين سره تطابق نه لري.

په دې ډول وينو چې تر سيد په کلونو وروسته، علامه اقبال که څه هم له لويديځې نړۍ او اسلامي دنيا سره ښه بلد و خو:

- له اسلام څخه عندي او شخصي تعبير وړاندې کوي.

- د اسلامي نړيوالې فکري مسئلې طرحه د متصوفينو د نړۍ ليد په چوکاټ کې ځايوي.

- او د مليت مفکوره او د ملي هويت تثبيت د کلمې په واقعي او عصري معنی په نظر کې نه نيسي.

نو ويلای شو چې اقبال د سيد د فکر او دريځ په پرتله درې قدمه په شا اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننني نړۍ د افکارو په رڼا کې د اسلامي دوکتورین د اصولو او پرنسیپونو د بیا طرحې دغه مسئله، چې د سید جمال الدین افغاني د مبارزو محور و او محمد عبده مطرح کړله او علاقه اقبال ورته حل لاره ونه مونده، بلکې لا یې پسې مغشوشه کړه، نن هم په هماغه قوت او حتی په حاده بڼه مطرح ده او ژور فکر ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ختیځ د پوهانو له خوا د لوېدیځ پېژندنې د لومړي کانګرس په اړه یو وړاندیز

زما په ګومان د سید د شخصیت غوره لمانځنه په دې کې نه ده چې ووایو په کوم ملك کې زیږیدلی او یا نه دی زیږیدلی، ځکه دغه پوښتنه او هر ډول ځواب چې ورته ورکړل شي، د هغو ستونزو په حل کې به چې سید جمال الدین افغاني عملا طرحه کړې دي، هیڅ ډول اثر ونلري.

فکر کوم د هغه د شخصیت ښه قدرداني دا ده چې هغه ستونزې چې سید تشخیص کړې وې او یو عمر یې د هغود حل په لاره کې هڅې وکړې او ډېر زحمتونه او مشقتونه یې وګالل او نن په لا پېچلې بڼه په خپل حال پاتې دي، بیا طرحه کړو او د حل لپاره یې خپل فکر یو څه ستړی کړو.

سوال دا دی چې: دا نن موږ ختیځیان په عمومي ډول او اسلامي نړۍ په خاص ډول، د لوېدیځ په اړه څه فکر کوو؟

ساده پوښتنه نه ده، شرحه او توضیح غواړي. زموږ مخکښنۍ خبرې د دې شرحې او توضیح لپاره یوه سریزه وه. موږ په دې بحث کې هڅه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دغو مهمو رامنځته شویو ستونزو ځینو جوړوونکو توکو ته، لنډه نغوته وکړو. له نننۍ لوېدیځې نړۍ سره زموږ مخامختیا، د سید جمال الدین افغاني د مخامختیا ادامه ده، ځکه نو زموږ د نننیو مشکلاتو د واضح طرح کولو یو مهم عنصر دا دی چې د سید افکار او پر اسلامي هیوادونو باندې د دغو فکرونو اغیز په دقت سره تحلیل کړو( مثلاً په مصر کې د شیخ محمد عبده او د هغه پر پیروانو باندې د سید اغیز، یا په ایران کې د مشروطیت پر غورځنګ د سید د فکر اغېز وڅېړل شي او یا په افغانستان کې هغه فکري بهیر تحلیل شي چې محمود طرزي او وروسته بیا محیی الدین انیس او ځیني نور لیکوال ورڅخه متاثر وو.)

خو دا باید په نظر کې ولرو چې اوسنۍ ختیځه او اسلامي نړۍ د سید د زمانې غوندې نه ده. دغه راز لویدیځه دنیا هم په نولسمه پیړۍ کې نه اوسي. واقعیتونه بدل شوي او اوسني مشکلات مو د هغه وخت په نسبت پیچلي شوي دي.

## لومړی د لوېدیځ په اړه:

د اوسني عصر د روان صنعتي او تخنیکي ستر انقلاب په باره کې ویلای شو چې په هیروشیما باندې له اتومي حملې وروسته یې د لویدیځ په خاوره کې یو نوی دوران پیل کړی دی. داسې تاریخي دوره پیل شوې ده چې مخکېنۍ دورې او په تېره بیا نولسمه پیړۍ پکې د ماقبل تاریخ په شان ښکاري.

مخکې اشاره وشوه چې د نولسمې پېړۍ ساده زړیو، اصلاح غوښتونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو تصور کاوه چې که ختیځ هېوادونه پخپل مالي او ټولنیز ژوند کې د لوېدیځ تمدن ارزښتونه ومني، نو دغه هیوادونه به د لوېدیځې نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې شامل شي او لوېدیځ روڼ اندي لیبرال او عدالت پروره ځواکونه به د دوی ملاتړ وکړي، خو نن د داسې خوبونو وخت تېر شوی دی.

دوه خونړي نړیوال جنګونه او د ذروي وسلې تلپاتې خطر هغه اعتماد او ډاډ چې لوېدیځې نړۍ او ځینو بشري ټولنو د لوېدیځ پر تمدن او ارزښتونو درلوده، له منځه وړی دی. هم لوېدیځه نړۍ د خپلو کلتوري او معنوي ارزښتونو په اړه د شك او تردید ښکار شوې او هم د نړۍ نور اوسېدونکي د لوېدیځ تمدن د ارزښتونو په اړه بې باوره شوي او دا پوښتنه رامنځته شوې ده چې یو تمدن چې د خپلو معنوي او فرهنګي ارزښتونو په مټ د ځان د تباهي مخه نه شي نیولای نو له هغو ملتونو سره به څه مرسته وکړي چې د دوی پیروي کوي؟ بله پوښتنه دا ده چې دغه تمدن به په خپلو ارزښتونو، پرنسیپونو او خپل نړۍ لید کې خامخا کوم اساسي عیب لري چې که څه هم د بشر په تاریخ کې د تغییر تر ټولو ستر امکانات ورسره دي خو په عین کې حال کې یې د تخریب تر ټولو بوږنوونکي وسایل ایجاد کړي دي؟ د دې ښکلې او خوږې مېوې په منځ کې باید کوم وژونکی چینجی وي او دا چینجی باید وپیژنو!

د شرق او غرب واقعیت هماغسې نه دی لکه په نولسمه پېړۍ کې چې و. اوس پخپله د لوېدیځې نړۍ تمدن د ختیځ او لویدیځ په بلاکونو ویشل شوی دی. دغه دواړه بلاکونه له یو بل سره په ټکر کې دي، متضادې ایدیولوژۍ لري، او د ژوند طرز او اجتماعي ـ اقتصادي نظامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې بېل دي. له بلې خوا د دوی د ټکر ساحه یوازې کوچنۍ اروپا نه بلکې ټوله نړۍ ده او په دې منځ کې د اسلامي ختیځ او عیسوي لویدیځ مخامختیا، یوه زَړَه، کوچنۍ او بې معنا مساله ښکاري.

خو سره له دې هم د لوېدیځ د واقعیت بله جنبه دا ده چې د دغو بلاکونو ترمنځ د ټولو ایډیالوژیکي اختلافونو او تضادونو سرچینه فکري او شعوري ده. هغه څه چې دغه دواړه لوري سره نږدې کوي او د هغوی د ژوندانه بنه، د فکر بنه او د فهم بنه ټاکي او د هغوی د نړیوال قدرت او ثروت سبب یې بللای شو، یوه واحده او مشابه اقتصادي بېخبنا ده او دې بېخبنا په ډېر پرمختللي ساینس او ټکنالوژي ولاړ صنعت رامنځته کړی دی. د لوېدیځ د دغه متناقض واقعیت په وړاندې د خپلې نړۍ موقعیت څرنگه پېژندلی او درك کولای شو؟ که هغه ختیځ او هغه لوېدیځ ته په پټو سترگو د تړلتیا دریځ او له هغوی نه ړنده پیروي یوې خواته پرېږدو، یوازې به دوې لارې په مخ کې ولرو: یا دا چې د ختیځ او لویدیځ زوړ تضاد هېر شي، نني ختیځ او لویدیځ بلاکونه د یوه واقعیت په توگه ومنل شي او هغه ټولنې، چې نه په هغه پورې تړلې دي او نه په دې پورې، د درېیمې نړۍ په نامه ونوموو او درېیمه نړۍ د همدې معیار په بنسټ د خپلو ټولنو په منځ کې، خپل نبی اړخ او کېڼ اړخ له یو بله تشخیص کړي؛ اویا دا چې: پر ساینس او تکنالوژي د ولاړ صنعتي اقتصاد بېخبنا، چې د سترو لوېدیځو هېوادونو د بډایتوب او ځواکمنتوب اساسي عامل دی، معیار وگرځوو، نو هغه ختیځ او هغه لوېدیځ یو واحد واقعیت گڼلای شو چې په دې صورت کې د ختیځ اولوېدیځ زوړ تضاد یو ځل بیا نوې معنی خپلوي، خو په دواړو صورتونو کې پایله یوه ده. د زاړه ختیځ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدیځ د تضاد په صورت کې او یا د درېیمې نړۍ د نني واقعیت په صورت کې موږ مجبور یو له لوېدیځ سره په ټولیزه توګه او یا د هغه له دووو متضادو لوریو سره د جلا فکر او نظر له اړخه مخامخ شو.

د فکري او نظري اړخ خبره مو ځکه وکړه چې زموږ اقتصادي او ټولنیز ټکر او مخامختیا له ډېر وخته (له ۱۵۰ کلونو زیات) جریان لري، خو تراوسه په دې نه یو توانیدلي چې د دغه ټکر فکري او نظري اساسات ځانته څرګند او روښانه کړو.

## دوهم د ختیځ په اړه:

ویلای شو چې د ختیځ په ټولنو کې فکري او ذهني واقعیت له اجتماعي او اقتصادي واقعیت سره ډېر ناانډوله شوی دی. مطلب دا چې فکري او ذهني واقعیت د اقتصادي او اجتماعي واقعیت په نسبت خورا وروسته پاتې دی او د دغو دوو واقعیتونو تر منځ واټن ورځ په ورځ ډیرېږي. د دې ناانډولي وجه دا ده چې لویدیځ د سیلاب په شان په ختیځ ورغلی دی او د ختیځ اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري جوړښتونه یې بې له کوم جدي مقاومته تر اغیز لاندې راوړي دي، خو د هغو متضادو فکري اساساتو او نړۍ لیدونو د ټکر مشکلات مطرح نه شول او شرقي متفکرانو د نړۍ لیدونو د دغه ټکر په رڼا کې خپل نړۍ لید او د هغه اصول او پرنسیپونه په جدي ډول تحلیل نکړل او ژور غور یې ورباندې ونکړ. ځکه خو فکري او نظري مشکلات په خپل حال پاتې دي.

ذکر شوې ناانډولي او بې توازني، کېدای شي په لاندې دوو مثالونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه روښانه کړو:

زموږ بزګر له نویو کرنیزو ماشین الاتو څخه کار اخلي خو د ماشین حرکت د ده په نظر یوه معجزه ده او د بدو سترګو په وړاندې دم او دعا ته مخه کوي او دې ته یې پام نه دی چې د ده ذهني جوړښت په داسې نړۍ لید ولاړ دی چې علمي اختراع او د ماشین تولید ناممکنه ګرځوي. که نه نو ده پخپله باید ډېر مخکې لا دغه ماشین جوړ کړی او د پردي مخترع او تولیدوونکي له احتیاجه باید راوتلی وای. د مسئلې پیچلتیا دلته ده چې د دغسې ذهني جوړښت لرل او له پرمختللیو تخنیکي آلاتو کار اخیستل، ټولنه تر پخوا لا زیاته د ماشین د مخترع او تولیدوونکي په وینځې او نوکرۍ باندې بدلوي.

دغه شان زموږ اداري مامور د نوي سبک په اداري چوکاټ کې په کار بوخت دی، خو نه د سیاسي فلسفې له فکري اساساتو او د هغې له عقلي پرنسیپونو خبر دی او نه د لرغونې شرقي ادارې د سبك له طرز سره د ادارې د نوي سبک توپیر په نظر کې نیسي، او له دې کبله په یو بې روحه بیروکراته موجود بدلیږي.

لنډه دا چې: اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو د یوې طبیعي پېښې یا حادثې په څېر جریان موندلی او د دغو بدلونونو په پیل او یا جریان کې کومې ارادي او شعوري واضحې طرحې ونډه نه ده لرلې. له دې کبله اجتماعي او اقتصادي پدیدې خپل حتمي طبیعي حرکت ته ادامه ورکوي، خو څرنګه چې فکري مخامختیا ته اړتیا نه ده احساس شوې نو ناانډولي ورځ په ورځ زیاته شوې ده. فکري او نظري مسایلو ته دا رنګه بې پامي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب کیږي چې دغه ټولنې د لویدیځ د مرییتوب زنځیر پخپل لاس خپلې غاړې واچوي او لویدیځ ته یې احتیاج ورځ په ورځ زیات شي. دغه ټولنې متوجه نه دي چې یوازې فکري انقلاب او ذهني انکشاف انسان ته دا قدرت ورکوي چې له تخنیکي او اقتصادي وسایلو د خپلې حقیقي ازادي لپاره استفاده وکړي.

د ختیځ په اړه بل ټکی دا دی چې ملي واقعیت د شلمې پیړۍ یوه ډیره مهمه ښکارنده ( پدیده) ده. د استعمار په خلاف مبارزو کې او د استعماري قدرتونو له وتلو وروسته په دریمه نړۍ کې ملي هویتونه لا زیات تثبیت شوي او د ټولنو د سیاسي او اجتماعي ژوند په برخلیک کې یې په سیمه ایزه او نړیواله کچه، اساسي نقش لرلی دی. ان هغه نظامونه چې ځانونه انتر ناسیونالیست او تر ملت ورهاخوا بولي، عملا په ملي واقعیت کې ایسار دي. سید جمال الدین افغاني د دې مدرنې مفکورې ارزښت ته په واضح ډول متوجه شو خو تر ننه پورې مو د ملي هویت په باره کې علمي بحث نه دی کړی او د دغه هویت فکري او نظري اساسات مو نه دي ایښي. ځکه خو د ملي هویت او واقعیت احساساتي او عاطفي اړخ د هغه تر فکري او عقلي اړخ پیاوړی دی او همدا وجه ده چې د اوسني وخت دغه ستر واقعیت د توکمیزو یا دیني باورونو په خم کې ورنګول شي او یا د پخوانو وختونو د امپراطوریو د احیا لپاره په هڅو کې پټ شي او په دې ډول یې مترقي ماهیت او د ولسي نهضت خصوصیت ورک او ختم شي.

زموږ ننني ټولنیز ژوند په دوه ډوله بهیرونو کې د خوځښت په حال کې دی، یو یې د ملي هویت د تثبیت په لاره کې هڅه ده او بل یې لوېدیځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو ته لیوالتیا ده. دا دویم یې هم د شلمې پیړۍ یوه بې سارې ښکارنده ده. د لوېدیځ د تمدن له حوزې بهر په ټولو ټولنو کې ټول اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او سیاسي تغییرات او بدلونونه یوازې او یوازې یو لوری لري او بس: ټول د لوېدیځ کېدو پر خوا روان دي ، خو د لوېدیځ کېدو دغه هدف که د خپلو وروستیو پایلو په رڼا کې وګورو نو یو متناقض هدف دی، ځکه لوېدیځ کېدل په پای کې له ځانه پردي کېدل او خپل فردي او ټولنیز هویت له لاسه ورکول دي. ځکه نو ختیځه ټولنه او ختیځ انسان له ځانه د پردي کېدو دغه حرکت یا د ملي هویت د مفکورې په وسیله او یا د دیني عقیدې په ذریعه جبیره کوي، خو د دغو دواړو جبیره یي عکس العملونو عیب او کمزوري په دې کې ده چې غیرشعوري او له عقلي اساساتو خالي دي.

د لوېدیځوالو د برترۍ او قدرت ستر رمز په دې کې دی چې هغوی د ځمکې پر مخ د تفکر او تعقل په مټ باداري او واکمني کوي. د اسلامي نړۍ اسلامي ملتونه که څه هم په خپل فردي او ټولنیز ژوند کې د لویدیځ پیروي کوي او د لویدیځ د ساینس او ټکنالوژۍ له وسایلو کار اخلي خو په څنګ کې یې د انتقادي عقل او ازاد تفکر ځواك نه روزي. د دې نیمګړتیا پایله مریيتوب او غلامي ده. یعنې د دې پرځای چې د لوېدیځې نړۍ تخنیکي وسیلې او اجتماعي او کلتوري بنې زموږ تر واک او ادارې لاندې وي ، موږ به د دغو وسیلو او بڼو تر امر لاندې یو او پخپل دې مریيتوب سره به د نړۍ د دغه بادار برلاسي لا پسې پیاوړې کړو او لا زیات به له خپل ځانه پردي شو.

په تیرو تقریبا پنځوسو کلونو کې د اسلامي ختیځ په هېوادونو کې یوه بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمه پدیده په لوېدیځ سبك د ښووني او روزنې وده او پراختیا ده. نن یو زیات شمېر ختیځوالو یا د خپلو هېوادونو په عصري ښوونځیو کې او یا د لوېدیځو ملکونو د لوړو زده کړو په ادارو کې علوم او فنون زده کړي دي او د لوېدیځ د فرهنګ او تمدن په اړه نسبتا ژور او دقیق معلومات لري، خو د ختیځو ملکونو د عصري تعلیمي ادارو د تامل وړ خصوصیت دا دی چې په هېڅ یو هیواد کې داهځه نه ده شوې چې د نویو او زړو تعلمیاتو ترمنځ پُل رامنځته کړي او یا کومه اړیکه ټینګه شي. له بلې خوا ، زړې مدرسې اوس هم ژوندۍ دي او له نویو تعلیمي ادارو سره له کومې اړیکې پرته، په خپله تړلې او محدوده حلقه کې کار ته دوام ورکوي او یا دا چې دغه مدرسې له منځه تللي دي او نویو تعلیمي مرکزونو له زړو تعلیماتو سره له رابطې پرته او بې له دې چې د ختیځ په کلتور او تمدن کې ریښه او سابقه ولري، کار پیل کړی دی او ځو نسلونه یې روزلي دي. دې بې ارتباطي او جدایي د نویو تعلیم یافته وو په روزنه کې دوې منفي پایلې لرلې دي:

۱: څرنګه چې دغه تعلیم یافته یو مخ د غربي سبک د زده کړو تر اثر لاندې راغلل نو تر ډېره حده یې د لویدیځ په وړاندې انتقادي روحیه له لاسه ورکړه.

۲: څرنګه چې پر خپل کلتور، تمدن او خپلې ژبې په کافي اندازه مسلط نه شول نو د خپل هیواد په پرمختګ کې او د خپلې ژبې په غوړېدو کې یې خلاقه او ابتکاري ونډه وانه خیستله.

د لویدیځ طرز تعلیم یافته وو دغه لومړني نسلونه او کهولونه تر ډېره حده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ثمره ونو ته ورته دي.

له بلې خوا زموږ په ټولنو کې د پخوانو شرقي مدرسو د طرز ادیبان او پوهان هم لا تر اوسه شته دي. که څه هم د نن ورځې تعلیمي او فرهنګي چاپیریال به په آینده کې په غالب ګومان دغه ډول پوهان او عالمان ونه روزي خو حقیقت دا دی چې تر اوسه پورې همدغه ډول پوهانو او ادیبانو د خپلې ژبې او فرهنګ په وده او انکشاف کې فعاله او خلاقه ونډه لرلې ده. همدغو کسانو زموږ ژبې، ادب او تاریخ ته کار کړی دی او د خپل نبوغ او استعداد په مټ یې تر ډېره حده له نویو علمي طریقو او تخنیکونو استفاده کړې ده. خو څرنګه چې له لویدیځو علومو، ژبو او کلتور سره په کافي اندازه اشنا نه وو نو علمي او کلتوري کار یې خامخا محدودیتونه لرلي دي. د دوی متناقض موقف د همدې محدودیت نتیجه ده، یعنې دوی په خپله علمي، انتقادي روحیه کې د « یو بام او دوه هوا » له پرنسیپه کار اخیستی دی. په دې معنا چې د لویدیځ په مقابل کې انتقادي دریځ لري خو د انتقادي تفکر همدغه معیارونه د ځان په برخه کې نه کاروي.

دا دوه ډوله روڼ اندي یعنې نوی تعلیم یافته او پخوانی عالم د یوبل خلاف دي. نوی تعلیم یافته د لوېدیځې نړۍ په اړه په یو څه پوهېږي، خو د لویدیځ په وړاندې له انتقادي روحیې کار نه اخلي، د خپل کلتور او فرهنګ په باب کافي معلومات نه لري خو د هغه په وړاندې یې دریځ انتقادي دی. د دوی برعکس د زاړه سبك عالم د لوېدیځې نړۍ په باب معلومات نه لري خو د لویدیځ په وړاندې له انتقادي روحیې کار اخلي. دی پر خپلې ژبې او خپل فرهنګ تسلط لري، مګر په انتقادي نظر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ګوري.

پورته ذکر شوي خصوصيات نسبي دي او کليت نه لري.

نن ورځ له نيکه مرغه په شرقي او اسلامي هيوادونو کې د نوي او پخواني سبک ګڼ شمير عالمان شته چې هم صاحب دله دي او هم د نظر څښتنان دي. دوی د خپلو ټولنو د اوسنو او پخوانو مشکلاتو په اړه معلومات لري او له بلې د جهان مشکلات ورښکاري او د خپلو هيوادونو او ټولنو په باب او دغه راز د انسان او جهان په باب تشويشونه او انديښنې ورسره دي. دوی هم پر ځان او هم پر نورو انتقادونه لري. په اسلامي نړۍ او شرقي نړۍ کې د دا رنګه ګڼ شمېر صاحب دلو او صاحب نظرو عالمانو شتون ما ته جرات راکوي چې د خپلو دغو ټولو خبرو اصلي مقصد بيان کړم او يو وړانديز ولرم.

## وړانديز:

موږ د اوسني ختيځ خلك تربل هروخت زيات له لوېديځ تمدن سره ژورې او پراخې فکري او نظري محاسبې، تصفيې او يو علمي انتقادي چلند ته اړ يو.

داسې صحيح علمي چلند به د ګڼو مهمو علمي پايلو په جمله کې يوه اساسي پايله ولري. موږ به د هغه په لړ کې وکولای شوو خپله ټولنه او تمدن او خپل ټولنيز او فرهنګي هويت په دقيقه او ځرګنده توګه درك کړو او دا به يو ډېر ستر خدمت وي چې موږ به يې د خپلې نړۍ د فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اجتماع لپاره ترسره کړو. ختیځه نړۍ اوس اوس ډېر شمېر داسې پوهان لري چې کولای شي دغه مهم کار په ښه توګه تر سره کړي.

لوېدیځو پوهانو د ختیځې نړۍ په اړه زیاتې مطالعې او څېړنې کړې دي. کابو له اتیا کلونو راپدېخوا یو نړیوال کانګرس، د ختیځ پېژندنې د کانګرس په نامه، تر وروستیو کلونو پورې، د نړۍ په سترو ښارونو کې جلسې جوړولې او ما چې د دغه کانګرس په څو جلسو کې ګډون کړی دی، تل مې روحي او ذهني نارامي احساس کړې ده. د د غې نارامۍ د احساسولو علت په دې کې و چې لیدل مې ډېری ختیځ پېژندونکو ختیځ د لرغونو اثارو د موزیم، د بشرپېژندنې د لابراتوار او د ژبو او کلتوري، اجتماعي جوړښتونو د مړو او ژړو بڼو د ساتنځای په څېر په نظر کې نیوه او ختیځ انسانان یې بس هسې د پوهنې د موضوع او یو بیځانه شي په توګه مطالعه کول. دوی د دغه بې روحه شي په اړه نظرونه ورکړي، قضاوتونه کړي او حکمونه صادر کړي دي . اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې ختیځوال یوازې د پوهنې موضوع نه وي، بلکې پخپله د پوهنې په فاعل بدل شي او نور نو یوازې د یوه څیز په توګه مطالعه نه شي، بلکې پخپله د یوه شخص په توګه ځان مطرح کړي او د تفکر په ساحه کې د ځان او جهان په اړه رغنده ونډه واخلي. دوی باید د هغه څه په اړه چې لوېدیځوالو د نړۍ په اړه ویلي او د هغه څه په اړه چې د ختیځ او ختیځوالو په اړه یې ویلي او وایي یې، بالاخره خپل نظر ورکړي، قضاوت دې وکړي او حکم دې صادر کړي. دوی دې د یوه عقلي او فکري شخصیت په توګه د انسانیت او علم په نړۍ کې قدم واخلي.

ځکه نو لازمه ده چې د اسلامي نړۍ او د ختیځ پوهان او متفکرین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي ځل سره راټول شي او د ( لویدیځ پېژندنې د نړیوال کانګرس ) لومړنۍ علمي غونډه دې جوړه کړي او په دې علمي غونډه کې دې دا رنګه موضوعات تر بحث تر لاندې ونیسي:

- د ختیځ او لوېدیځ فلسفي مخامختیا او د نړۍ لیدونو د ټکر ستونزې،

- د لویدیځ د فلسفو په وړاندې د ختیځوالو نړۍ لیدونه،

- غربي ساینس او ټکنالوژي او اساسات یې او د ختیځ او ټولې نړۍ لپاره یې ارزښت او معنا،

- د لوېدیځ ټولنیز، سیاسي او فرهنګي جوړښتونه او د نړۍ او ختیځ لپاره د هغه ارزښت او معنا،

- انټروپولوژي او ټولنیز علوم، د لوېدیځ او ختیځ لپاره د هغو معنی او مفهوم

- ختیځ پېژندنه او په لوېدیځ تمدن کې د هغې نقش، د ختیځ د تمدنونو په پېژندنه کې د هغې معنا او ارزښت،

- لوېدیځ کلتور او ادبیات، په ختیځو ادبیاتو کې د هغو معنا او اغېزې.

او داسې نور ګڼ موضوعات چې باید مطالعه او تحلیل شي.

د داسې یوې غونډې د کوربه توب لپاره به هر ختیځ هېواد په تېره اسلامي هېواد مناسب وي خو زما په نظر د دا رنګه یوې سترې علمي او فرهنګي غونډې د لومړنۍ جلسې لپاره تر ټولو مناسب ځای افغانستان دی، هغه هېواد چې د اسیا زړه دی، هغه هېواد چې د سترو تاریخي او کلتوري بهیرونو مرکز، د اتصال کړۍ او د تګ راتګ څلور لاره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زردښت له همدغه ځای نه نړۍ ته پیغام ولېږه، بودېزم له خپلو فکري او هنري ارزښتونو سره همدلته وده او پراختیا وموندله او له دې ځای نه یې مرکزي اسیا ته لاره وکړه، یوناني تمدن همدلته له ختیځ او ختیځې روحیې سره خلاق چلند ترسره کړ، کوشاني تمدن په همدې خاوره کې وځلېد او اسلامي تمدن په همدې ځمکه کې د هنر او ادبیاتو شاهکارونه رامنځته کړل او بالاخره همدغه هېواد و چې د لوېدیځ د استعماري قدرت په وړاندې یې مقاومتونه او مبارزې وکړې او نن پکار ده همدغه هېواد، چې د سید جمال الدین افغاني ټاټوبی دی، له لوېدیځ تمدن سره د ختیځې نړۍ د علمي او فکري مخامختیا زمینه برابره کړي.

باور دی چې زموږ ځوان جمهوري نظام به ، چې نوی او ستر تاریخي رسالت یې په غاړه اخیستی او د مرکزي اسیا د تمدنونو په بنسټ اېښودنه او وده کې یې زموږ د هېواد پرېکنده کلتوري نقش په نظر کې دی، د لوېدیځ پېژندنې د لومړي کانګرس ستر ویاړ زموږ د هېواد په برخه کړي او له دې نوي علمي او فرهنګي جریان سره به دغه لرغوني هېواد ته نوی فرهنګي ژوند وبښي.

## نوټ:

که دغه مفکوره د سید جمال الدین افغاني د شخصیت د نمانځنې د نړیوال سیمینار د غړو خوښه شوه نو وړاندېز به وکړم چې د دې مفکورې پر علمي او نظري طرحه باندې د لا زیات غور لپاره دې د افغان پوهانو او د دوستو هیوادونو د پوهانو یوه مشترکه کمیټه وټاکل شي چې لازمې فیصلې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یاددښت:**

متاسفانه د مقالې په اصل کې انګلیسي ماخذ او لاتین نومونه له ټایپ څخه پاتې شوي دي او موږ ونه توانېدو چې دغه نیمګړتیا رفع کړو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعلیقات

## سید جمال الدین افغاني

جمال الدین د سید صفدر زوی و. په ۱۲۵۴ ق ۱۸۳۸ میلادي کال د کونړ په اسعد اباد کې وزیږېد.

د سید جمال الدین افغاني کورنۍ د کونړ په اسعد آباد کې اوسېدله خو د امیر دوست محمد خان په وخت کې د ځینو ستونزو له مخې د هغه په امر د سید پلار له کورنۍ سره کابل ته راغی او دلته مېشت شو.

سید جمال الدین افغاني په اووه کلنۍ کې په خپل کور کې د دودیزو علومو په زده کړه پیل وکړ. دی ډېر هوښیار و او په لږ وخت کې یې د نړۍ د وخت دودیز علوم ټول زده کړل، ان چې استادانو یې هم له نبوغ او فکر څخه ګټه اخیستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان سید په اتلس کلنۍ کې صرف، نحوه، معاني، بیان، نوی او زوړ تاريخ، تفسیر، حدیث، فقه، اصول، عقاید، کلام، منطق، ریاضی، هندسه او طب ختم کړل. ده له ډېرې ځیرکۍ او قوي ذهن سره پراخه مطالعه هم کوله او د ژوند په مختلفو برخو کې یې د خلکو د ویښتیا او هوساینې له پاره یو نوی نظر او پیغام وړاندې کړی ، چې دا د ده د نبوغ ښه بېلګه او د فکري ځواک څرګنده نښه ګڼل کیږي. دهٔ د خپلي بې سارې پوهې په برکت د نړۍ ډېر هیوادونه ویښ او د ژوند په رښتینې معنی پوه کړل.

سید کابل ته تر تګ مخکې په کونړ کې له سید فقیر بادشاه څخه دیني او عربي علوم زده کول او په کابل کې یې بیا د ګذري په جومات کې له لویو پوهانو څخه لوست کاوه. د وخت په تیرېدو سره یې پر دې زده کړو قناعت ونه کړ او د پوهې مینې تر هنده ورساوه.

سید جمال الدین افغاني په ۱۸۸۵ میلادي کال کې د پان اسلامیزم غورځنګ په جوړولو بریالی شو. د علامه نظریه او مبارزه په دوو اصولو (اسلامیت) او (افغانیت) ولاړه وه.

سید لومړی هند ته لاړ، خو انګرېزانو له هغه ځایه و ایست. بیا مصر او ورپسې ترکېې ته لاړ . په ترکیه کې د هغه هیواد د صدراعظم په غوښتنه د پوهنې او معارف د وزارت د مجلس غړی و ټاکل شو. سید له ترکېې څخه مصر ته لاړ او هلته یې نهه کاله د الازهر په اسلامي مدرسه کې د استاد په توګه دنده تر سره کړه. په ۱۸۷۹ میلادي کال کې له هغه ځایه وتلو ته مجبور شو او بېرته هند ته روان شو. خو انګرېزانو ډېر ژر مجبوره کړ چې له هنده څخه ووځي. له هغه ځایه لندن ته لاړ او هلته یې د (

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضیاالخافقین ) په نامه یو اخبار پیل کړ او له هغه ځایه فرانسې ته لاړ او هلته یې هم د عروة الوثقی په نامه د یوه اخبار خپرول پیل کړل. اخبار یې د فرانسې حکومت بند کړ او له هغه ځایه څخه ترکیې ته لاړ.

سید په ۱۸۹۷ میلادي کال د مارچ په اتمه نېټه د سرطان د ناروغی له امله وفات شو او په ترکیه کې ښخ شو، چې وروسته بیا په **۱۳۲۳** هجري لمریز ( ۱۹٤٤ میلادي ) کال کې د ده تابوت، د ترکېې د حکومت په موافقه کابل ته راوړل شو او د کابل پوهنتون په زړه کې په شاندارو مراسمو سره ښخ شو.

## ابن سینا:

ابوعلي سینا په درې سوه اویا هجري قمري کال په بخارا کې دنیا ته راغی، څو پنځوس کاله یې ژوند وکړ او په همدان کې وفات شو. دی د ابونصر فارابي غوندې د اسلامي تمدن د زرین دوران ډېر لوی مفکر او فیلسوف بلل کیږي. د ابن سینا پلار، عبدالله ،د افغانستان د بلخ اوسېدونکی و او نوح ساماني په زمانه کې بخارا ته کوچېدلی و.

د ده اکثره لیکنې له فلسفې او طب سره تعلق لري. په فلسفه کې « الشفا » او په طب کې « قانون » د ابن سینا مشهور آثاردي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابن رشد:

محمد بن احمد بن رشد اندلسی، په ۱۱۲۶میلادي کال په اسپانیا کې زیږېدلی او په ۱۱۹۸میلادي کې مړ شوی دی.

علامه ابن رشد د خپل پېر په ټولو علومو لاسبری و. په رنځپوهنه کې د جالینوس ټول علم ده خپل کړی و. د ده فلسفه د ارستو د فلسفې شننه او لنډیز و. ابن رشد هڅه وکړه چې د ارسطو فلسفه او اسلام سره پخلا کړي.

## مولانا جلا ل الدین بلخي:

مولانا جلال الدین محمد بلخي د سلطان العلما بهاالدین زوی د ۶۰۴ هجري قمري کال د ربیع الاول په شپږمه د افغانستان په بلخ کې زیږېدلی دی. په نهه کلنی کې له پلار سره قونیې ته لاړ او په ۶۴۲ هجري قمري کال په قونیه کې له شمس تبریز سره مخ شو. د شمس معنوي افاداتو پر هغه ژور اغېز وکړ. مولانا له شمس تبرېز سره تر لیدو دمخه یو زاهد او عابد سړی و او د دین د اصولو او فروعو پر توضیح او د طالبانو ته پر ز ده کړه بوخت و. خو له دغه کامل سړي سره یې تر بلدتیا وروسته د وعظ او تدریس مجلسونه پرېښودل او له صافي صوفیانو او اخوان صفا سره همغاړی شو او شعر و شاعري ته یې مخه کړه.

شمس په قونیه کې تر درې کاله اوسېدو وروسته په ۶۴۵ قمري یوه شپه تری تم شو. مولانا د هغه په بېلتون کې سخت وکړېد. تر هغه وروسته یې پر حسام الدین چلپي زړه وتاړه او د هغه په غوښتنه د مثنوي معنوي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلو بوخت شو. پر دغه اثر سربېره مولانا په نظم او نثر کې یو شمېر نور ارزښتمن اثار هم لیکلي او په یادگار پرې ایښي دي. د مثنوي معنوي پر گڼون، د هغه دیوان شمس او في مافیه د نړۍ له تلپاتې اثارو څخه شمېرل کېږي.

## گیزو:

دغه فرانسوی سیاستمدار او تاریخ لیکونکی په ۱۷۸۷ میلادي کال زېږیدلی او په ۱۸۷۴ کې مړ شوی دی. گیزو په ۱۸۲۲ کال کې د سیاسي جرمونو په خاطر د اعدام د سزا په اړه یو کتاب وکیښ چې ډېر اثر یې وکړ. د ده په نظر په سیاسي جرایمو په خاطر اعدام گټور کار نه دی او تاوانونه پیښوي.

## فارابي:

ابونصر محمد بن محمد فارابي( په ۸۷۲ میلادي کې پیدا او په ۹۵۰ میلادي کې مړ) د اسلامي دنیا د زرین دوران یو ډېر لوی مفکر او فیلسوف دی. دی د اوسني قزاقسستان په جنوب کې او یا احتمالا په اوسني افغانستان کې دنیا ته راغی ، ډېر عمر یې په بغداد کې تیر کړ او په دمشق کې وفات شو. ده د ارسطو پر آثارو مهمې شرحې لیکلې او په همدې وجه د معلم ثاني لقب ورکړ شوی دی.

فارابي د خپل وخت په اکثرو علومو کې بې ساری عالم و. په فلسفه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاضي، موسیقي، نجوم ، منطق او ځینو نورو علومو کې ستر استاد و. دی په منطق او طبیعیاتو کې د ارسطو په لاره روان دی، په اخلاقو او سیاست کې افلاطوني دی او په مابعدالطبیعه کې د فلوطین افکارو ته مایل بلل شوی دی. ده هڅه کړې ده چې د ارسطو او افلاطون افکار د اسلام له توحیدي عقیدې سره همغږي کړي. دی د ګڼو او مهمو آثارو څښتن دی او په اسلامي فلسفه کې د یو سر لاري او د خاص مکتب د موسس په سترګه ورته کتل کېږي.

## رنان:

فرانسوی مفکر ارنست رنان په۱۸۲۳ میلادي کال کې وزیږېد او د ځوانی په جوش کې یې د مذهب په نسبت خپله دلچسپي له لاسه ورکړه او د لیکوالۍ، فلسفې او تاریخ پسې شو، حال دا چې کورنۍ یې په دې هڅه کې وه چې الهیات زده کړي او کشیش شي.

رنان د ختیځ پېژندنې له څېړنو سره مینه درلوده او تاریخ یې د تجربو سرچینه ګڼله . ده له سید سره یوه مناظره راغلې او د سید عظمت او قوت یې ستایلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمود طرزي:

محمود طرزي د غلام محمد خان طرزي زوی، په ۱۸۵٦ میلادي کال کې زېږېدلی او په ۱۹۳۳ میلادي کې په استانبول کې وفات شوی دی. طرزي له خپل پلار غلام محمد سره، چې د امیر عبدالرحمن خان له خوا تبعید شو، هند ته لاړ او وروسته له درې کلونو عثمانیې ته لاړ.

طرزي د رسمي کار له پیل نه د مخه په عربي هیوادونو په ځانګړې توګه په سوریه او کوچیني اسیا کې څه موده تېره کړې وه او د لویدیځ نوی مدنیت او د شام، عثمانیې او د مصر حالات او تحولات یې له نږدې څارلي وو. علامه طرزي یو فاضل شخصیت، لیکوال او شاعر و. هغه په نظم او نثر کې د یو مکتب خاوند بلل کېږي. د امیر حبیب الله خان د سلطنت په موده کې یې د سراج الاخبار او سراج الاطفال په خپرونو، ژباړو او نورو لیکنو لاس پورې کړ او د افغانستان په ادبي او سیاسي چاپېریال کې یې لوی انقلاب او بدلون راووست. علامه طرزي د خپل وياړلي ژوند په اوږدو کې ۲۸ ټوکه کتابونه کښلي او ژباړلي دي.

علامه طرزي، په ۱۹۱۹ کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر و. هغه د افغانستان د ژورنالیزم پلار بلل کېږي.

## محي الدین انیس:

د غلام محی الدین انیس کورنۍ په اصل کې د غزني د تاریخي ولایت د مقر ولسوالۍ اوسېدونکې وه او په قوم کې جمال خېل و. د هغه نیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سترګو طبیب و، د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې مصر ته تبعید شو. انیس په مصر کې لوی شو او په ۱۳۰۲ لمریز کال کې د محمد اسمعیل افندي په هڅوني، چې د طباعتي ماشینونو د پېرېدلو لپاره مصر ته تللی و، افغانستان ته راغی او په هرات کې د دري ادبیاتو پر زده کړې بوخت شو. او د (ندای طلبه معارف یا حقوق ملت) په نوم ناول یې چاپ کړ.

انیس په ۱۳۰۴ لمریز کې کابل ته راغی او په ۱۳۰٦ لمریز کې یې پخپل شخصي لګښت، د انیس ورځپاڼې په خپرولو ، چې غازي امان الله خان یې ملاتړ کاوه، لاس پورې کړ.

نوموړی د نادرشاه په دوره کې په زندان کې ومړ.

## زردښت:

زردښت، چې اصلي نوم یې سپین تومان و، څه باندې درې زره کاله پخوا په اریانا ویجه کې زېږېدلی او همهلته خلکو په پیغمبری منلی و. ده د خلکو د لارښوونې لپاره د اوستا کتاب، چې الهامي کتاب بلل کېږي، وړاندې کړ. په دې کې ګاتونه هغه زاړه سرودونه دي، چې پخپله زردښت ویلي دي . د وخت واکمن ګرشاسب د ده د دین ملاتړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اقبال لاهوري:

د اردو او دري ژبو لوی شاعر ،علامه محمد اقبال لاهوري، د 1873 کال د فبروري په دوه ویشتمه، د پنجاب په سیالکوټ کې زیږېدلی دی.

اقبال د پوهنتون په دوره کې د "سر توماس آرنولډ"په هڅونه د غربي مفکورو تر اغېز لاندې راغی او فلسفې ته یې مخه کړه. ده په اروپا کې په فلسفه کې دوکتورا واخیسته. اقبال د افغاني سید په شان د اسلامي ټولنې د بیداري هڅه کوله. دی په پاکستان کې ملي شاعر بلل کیږي. اقبال په خپلو شعرونو کې د افغانستان د دوو پاچهانو ، شاه امان الله او محمد نادرشاه ډېره ستاینه یې کړې ده. دی سید جمال الدین افغاني او مولانا جلال الدین بلخي ته هم په ډېر احترام قایل دی.

## شیخ محمد عبده:

محمد عبده (په ۱۸۴۹ کې پیدا شوی او په ۱۹۰۵ کې وفات شوی) دیني عالم او مفکر و. دی په اسلامي دنیا کې د دیني ریفورمیزم یو سرلاری بلل کیږي.

محمد عبده د اسلامي ټولنې د ترقي او سوکالي لپاره نظریات وړاندې کړل. ده د مسلمانانو د مختلفو مذهبونو د پیروانو تر منځ په وحدت باندې تاکید کاوه او د مصر له مسلمانانو څخه یې غوښتل چې د خپل ملک له عیسویانو سره هم ښه روابط ولري. محمد عبده چې له افغاني سید سره پیژندل، د افغاني سید په سپارښتنه یې د عقلي علومو مطالعه پیل کړه. نوموړی د سید له شاګردانو او مخلصانو څخه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## البرت حوراني:

البرت حبیب حوراني د ۱۹۱۵ کال د مارچ په ۳۱ زیږېدلی او د ۱۹۹۳ کال په جنورۍ کې یې له دنیا سترګې ټولې کړې دي. هغه د منځني ختیځ یو انګلیسي- لبناني تاریخ لیکونکی و. تر ټولو مشهور اثر یې د عربو خلکو تاریخ نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شلمې پېړۍ نوموتی افغان روښنفکر، شاعر، لیکوال او مبارز پوهاند سید بهاءالدین مجروح په ۱۹۸۸ د فبروري په ۱۱مه په پېښور کې ووژل شو. هغه تېک نوي کاله وړاندې د کونړ د اسمار ولسوالۍ په یوه روحاني کورنۍ کې وزیږېد او په کونړ، کابل او فرانسې کې تر زده‌کړو وروسته یې د شرقي عرفان او حکمت او غربي فلسفې او معاصرو علومو په زده‌کړې کې د بې ساري نبوغ له کبله د خپل عصر یو ځانګړی، ممتاز او عالم شخصیت و.

د پروفیسور مجروح صراحت، روښنفکرانه ژمنتیا، او پراخه انرژي یې شخصیتي ځانګړنې وې، هغه د متعددو قشرونو سره په اړیکه کې یو اغېزناک انسان و.

ښایي د سید جمال الدین افغاني په اړه ډېر کتابونه لیکل شوي وي، خو د پوهاند مجروح دغه اثر د افغاني سید د تاریخي نقش او مقام په اړه له ډېرو جهتونو یو کمساری اثر دی او موږ ته داسې څه رازده کوي چې د نن د ستونزو په پېژندلو او حل کولو کې ورنه استفاده کولای شو. په دغه اثر کې د سید د شخصیت مانا او موقعیت د تاریخ په پس منظر او د اوسنۍ نړۍ په تاریخي متن کې تر مطالعې لاندې نیول شوی دی.

INSAN

www.majrooh.org

مجروح فلسفي اکاډمي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**